۳ - د عامې روغتيا آمريت .

٤ - ساختمان ( انجينري - زراعت ) آمريت .

٥ - د ترانسپورت آمريت

٦ - د مهاجرينو د انتقال آمريت

٧ - اسکان آمريت

٨ - د مصيبت زدګانو د وارسي آمريت

٩ - اداري آمريت

١٠ - د تهيه آمريت

١١ - د توزيع آمريت

١٢ - د تفتيش آمريت

د دوباره اسکان او د افغانستان د بيا ودانولو کار په دوو لاندې مرحلو کې صورت نيسي :

**الف په داخل کې** - د دې لپاره چې په پاکستان او ايران کې افغان مهاجرين په ډاډه زړه سره په خپلو وطنو کې بيرته اسکان او په اطمينان سره ژوند ته ادامه ورکړي نو دا په کار ده چې لومړی دافغانستان په داخل کې د دوی د اوسيدنو په سيمو کې مطمئن شرايط برابر شي او بيا دا مهاجر په يو مناسب او معقول تدريجي پروګرام سره ور انتقال شي .

هغه اقدامات چې د مهاجرينو د انتقال د تيارۍ په منظور په دننه افغانستان کې لازم دي په لاندې ډول دي .

**۱ ـ د مینونو پاکول**: پر ټول افغانستان باندې روسانو ضد پر مرتل او انواع دبمانو د باران په شان او روْلي دي دا په ډیره سخته او حتی نا ممکنه وی چی بیله دی چی کلی او کروندی د دا ډول خطر ناک او مهلک بمانو څخه پاک شي مهاجر ورته انتقال شي. د دی لپاره چی په افغانستان کی دبمانو د ټولولو او دهغو څخه دسیمو دپا کولو کار په یو منظم او موثر ډول سر ته و رسیږی په نظر کی دی چی یو کورس ز مونږ له خوا دایرشي چی یو تعداد کسان تربیه کړی. دا کسان به نه یوازې په عملی ساحه کې موثروی بلکه د نو رو داستاذی او رهنمائي و ظیفه به هم اجرا کوی.

همدا راز د ماینونو د خنثی کولو، را ایستلو او د سیمو د پا کولو د کار د طریقو فلمونه او پسترونه به ښیئی. یوه بیله اداره زمونږ د وزارت په چوکات کی د دغه کا ر لپاره مؤظف ده چی د دغه کارونه تعقیب او د ماینونو د خنثی کولو او ر ا یستلو وسایل تهیه او د یو معقول پروګرام مطابق توزیع یی کړی.

**۲ ـ د آبیاری سیستم**: په ا فغا نستا ن کی د آبیا ر ی سیستمونه اکثراً د روس د ظا لما نه بمبا ر یو په نتیجه کی سخت زیانمن شویدی. همدا راز په افغانستان کی د یو مؤثر حکو مت د نه موجودیت په وجه د آبیاری سستمو نه خرا ب ، د لای او ختو ډک او د طبیعی زیان هم ښکا ر شو یدی. تر څو په افغا ـ نستان کی د آبیاری سستمونه بیرته نه وی فعال شوی او د فشار

دغه عامل نه وی له منځه تللی د مهاجرینو بیرته و رتګ او هلته ژوند معمول ته را ګرځیدل آ سا ن ندی . زموږ د آبیاری د سستمونو د بیرته فعالیدو لپاره مشخص پلانونه په نظر کی وه .

۳-دمحکو تسطیح: دروسانو د شدیدی اومدحشی بمباری ۲ - او په زراعتی مځکو او باغونو کی د روسی ټانکو غوبل دا مځکی ناهموار او په لوړرو او ژورو بدل کړیدی . یووسیع پروګرام په نظر کی وو چی دانتیصه رفع شوای وای .

۴ دکورونو آبادول، په افغانستان کی دخلکو کورونه اکثراً یا دبمباری او قسماً د عدم مراقبت په وجه خراب شویدی تر څو دا کورونه بیرته آباد شوی نه وی نو مهاجر ورتلای نشی او که ورسی هم هلته به تر څو چه کورونه ئی آبادیږی په خپل وطن کی مهاجر وی .

موږ د ددی کورونو او کلو دیبا ږدابولو لپاره منصوبی په نظر کی درلودی .

۵ - د سرکانو وضع : په افغانستان کی اوس د سرکانو وضع خرابه ده اکثره سرکان روسی ټانکونو خراب کړی او د نظامی عملیاتو په نتیجه کی داستفادی څخه وتلي دی . همدا راز پلونه او پلچکان هم د دی اوږده جنګ په جریان کی سخت زیانمن شویدی . دسرکانو او پلونو دجوړولو او بیرته فعالولو لپاره یو جامع پلان په نظر کی وو .

۶ ـ دافغان ماشومانو او ځوانانو دتعليم تربيې لپاره‌به‌هم يو لازم پلان جوړ شوی وي‌داځکه په افغانستان کې تعليم وتربيه با بالکل فلج او يا مطلو به نده . همدا راز صحي شرايط سخت خراب دي چې جدی توجه غواړي .

کله چې پورتني شرايط مساعد شول نو لومړی به داخلي مهاجر تشويق شي چې خپلو کورونه ولاړ شي بيا به هغه مهاجرين چې په پاکستان او ايران کې پراته دي تر يو منظم پلان لاندې انتقال کيږي .

ب ـ د مهاجرينو دانتقال عمليه په لاندې ډول پيش بيني شوی وه :

۱-ټول‌افـغان مهاجرين چې اضافه تر پينځه ميليونه دي يو دم او دفعتاً نشي انتقال کيدلای. دا ځکه لومړی‌دومره وسيع امکانات زموږ سره نشته . دوهم ددې ټولو لپاره هلته د اوسيدلو ځايونه او د ژوند لازم وسايل نشي تهيه کيدلای او دريم دا چدی ويره ده چې هلته به داکسان د قحطی او ساري امراضو سره مخامخ شي . نو په کار دا ده چې دا پروګرام تدريجي او عملي جنبه ولري

۲ـ په اکثرو هغو مناطقو کې چې اوس زموږ د کار په پلان کې شامل دي اوس محلي شوراګانې شته او مربوطې سيمې ددغه شوري‌اګانوپه ذريعه‌اداره کيږي. کوموځايوکې‌چې‌داسې‌شوري‌اګانې نشته په هغه ځايو کې به دا ډول شوری ګانې جوړيږي کوم

پروګرامونه چې مونږ غواړو په یوه سیمه کې تر سره کړو ددی محلي شوراګانو او ادارو په مرسته به تر سره کیږی .

محلی شوری عبارت د یوی ولسوالي یا علاقداری د مجاهدینو د قوماندانانو ، علماو ، مشایخو او خبیر و خلکو څخه ده چې د سیمی ټولی مربوطی مسئلی د دغه شورا له لاری حل کوی .

په مرستو کې نقده پیسه ، تعمیرا تي‌او زراعتی مواد ، وسایل خوراک مشوره ، .... او نور شامل دی .

۳ ـ د مهاجرینو د انتقال لپاره لومړی استقبالیه کمپونه په مربوطه سیموکی جوړ او مهاجرین هلته ځای پر ځای کیږی .

د ځلورو میاشتو په موده کی به دا مهاجرین د دی استقبالیه کمپونو څخه خپلو اصلي کورونو ته انتقال کیږی . په خپلو کورنو کی د میشته کید و په وخت کی به د یو کال خوراکه د کورنی د غړو په تناسب ورکول کیږی تر څود څمکی حاصلات ئی ورسیږی .

څرنګه چې شاړې ځمکې تر دریو کالو پوری حاصل نه ورکوی لازمه ده د حاصلات په تناسب د دوهم او دریم کلونه هم د نیم او څلورمی حصي د کال خوراک مرسته د دغو کورنیو سره وشی .

٤ ـ د مهاجرینو د انتقال پروګرام په ټول افغانستان کی زمونږ د امکاناتو په اساس په دری مرحلو کی تر سره کیږی لو مړی

هغه سیمې چه پاکستان او ایران ته نژدی دی بیا مرکزی سیمی او وروسته په شمالی سیمو کې دا پروګرام عملی او په دی دول تیول داخلی او خارجی مهاجرین په امن اواطمنان په خپلو سیمو او کورو کی ځای پرځای کیږی . په آزاد اواسلامی افغانستان کی د دوباره اسکان او دافغانستان د بیا ودانولو اداره دری کاله وروسته کله چی خپل پلانونه او پروګرامونه ئی په بری سره سر ته ورسول منحل او وظایف ئی په بیلو بیلو مربوطو وزارتو نو پوری تړل کیږی

# تشکیلات او پرسونل

## دقیادي شورئ د ۱۹۸۸/۹/۴ د تومیې مطابق

او ددې لپاره چې دا نوې مستقله اداره د ټول جهاد د شخه نمایندهګي وکړي ، جهادي تنظیمونه د هغه په کار مطمین وي او د ټول مجاهد ولس خدمت ته بیله کوم تبعیض شخه ورسیږي ما د خپل وزارت د شورای غړي د رفاه په اداره کي د خپلې شورای د غړو په حیث و ساتل چې نومونه ئي په لاندي دول دي .

۱ - ښاغلی مولوي سیف الرحمن د افغانستان د نجات د ملي جبهې شخه

۲ - ښاغلی عبدالرزاق لالا د افغانستان د حرکت انقلاب اسلامي شخه

۳ - ښاغلی حاجي غلام دستګیر د افغانستان د حزب اسلامي (حکمتیار صاحب) شخه

۴ - ښاغلی حاجي فقیر محمد بایزی د افغانستان دملي اسلامي محاذ شخه

۵ - ښاغلی مولوي محبوب الهي د افغانستان د اسلامي حزب (خالص صاحب) شخه

۶ - ښاغلی قاضي محمد حکیم د افغانستان د اسلامي جمعیت شخه

۷ - ښاغلی حاجي محمد دوران د افغانستان د اسلامي اتحاد شخه

۸ - ښاغلی صوفي قربان محمد د افغانستان د اسلامي جمعیت شخه

دی اتو کسانو په ډیر اخلاص رفا سره همکا ری وکړه د کار طریقه دا وه چې د رفاه د اداری د عمده اجرآتو هفته وار راپور دغی شورای ته وړاندی کیده او تر بحث وروسته به په هغه باندی تصمیم نیول کیده .

رفاه په پیښور او کویټه کی منظم او مجهز دفتر ونه لرل او د افغانستان هغو ولایاتو ته ئې رسیدګی کوله چې د پیښور او کویټی څخه اکمال کیدی شول . زمونږ پروګرامونه د پیښور له لارې په کنړ او پکتیکا کی ، د کویټی له لارې په زابل کندهار او هلمند کی په لاندی ډول تر اجرآ لاندی وه .

# الف - پیښور

## د رفاه مرکزی دفتر :

رفاه د پیښو ر په یونیورسټی تا و ن کی یو ښکلی ، مجهز او منظم دفتر درلود چی د لیدلو وړ وو د افغانستان تو لو هغو ولایاتو ته چی د صوبه سرحد له خو ا اکمال کیدای شو ه ددغه دفتر له خوا رسیدگي کیدای شوه .

پدی دفتر کی لاندی کسانو کار کاوه .

١ - جناب دوکتور فاروق اعظم د ر فا ه د اداري عمو مي آمر .
٢ - ښا غلی فقیر محمد بایزي ( حقوق پو ه ) ا د ا ر ی آ مر
٣ - ښاغلی عبدالاحد (زراعت) فنی مامور
٤ - ښاغلی ا نجنیر عبدالرحمن فني مامور
٥ - ښاغلی ا نجنیر عبدالرشید فني مامور
٦ - ښاغلی اختر محمد اداري مامور
٧ - ښاغلی صفي الله محاسب مامور
٨ - ښا غلی سمیع ا لدین پیاده
٩ - ښاغلی با با پیاده
١٠ - ښاغلی محمد طاهر پهره دار
١١ - ښاغلی محمد ظاهر دریور

د مامورینو د رتبی او معاش تثبیت د یوی معینی لایحی او معیار په اساس شوی وو چې ددی راپور مل دی . د اداری عمومي آمر ( جناب دوکتور فاروق اعظم ) د رفاه سره د مرستی په منظور معاش نه اخیست د رفاه د شورای هر یو غړی د میاشتی څلور زره کلداری معاش درلود د پښو و مرکزي دفتر د افغانستان په داخل کی په بیلو ولایاتو کی لاندی پروگرامونه درلودل .

## ۱ - د کنړونو ولایت :

د کنړونو ولایت په مرکز اسعد آباد کی رفاه یو منظم دفتر درلود چې لاندینی پرسونل پکی کار کاوه :

۱ - انجنیر محمد جان د کنړونو ولایت د رفاه عمومی آمر

| | |
|---|---|
| ۲ - انجنیر غلام رحمن | فنی مامور |
| ۳ - انجنیر حسین احمد | فنی مامور |
| ۴ - ښاغلی رحمن گل | زراعت او مالداري مامور |
| ۵ - ښاغلی برکت الله | زراعت او مالداري مامور |
| ۶ - ښاغلی مرسلین | زراعت او مالداري مامور |
| ۷ - ښاغلی سید غریب | تعلیم و تربیه // |
| ۸ - ښاغلی گلا خان | اداری مامور |
| ۹ - ښاغلی محمد وزیر | اداری مامور |
| ۱۰ - ښاغلی امان الله | دریور |

# د رفاه د کار پروگرام

رفاه له یوی خوا یوه نوی اداره وه چی محدود عواید او مالی منابع یی درلودل او له بلی خوا یی د هیواد د بیا آبادولو په کار کی لازم او کافی فنی پرسونل نه درلود . دریم دا چی دا کار دومره پراخ او وسیع و چی په یو وار او لږوخت کی دا ټول یو د م نشوای تر سره کیدا ی . نو ځکه مو خپل کار ته تدریجی او مرحله وار پروګرام جوړ کړ . موږ افغانستا ن پر درو برخو وویشه .

۱ ـ هغه ولایات چی د پاکستان او ایران سره سرحد لری

۲ ـ مرکزی افغانستان

۳ ـ د هیواد شمالی صفحات

هغه ولایات چی د پاکستان اوایران سره سرحد لری هغوی د پروگرام په لومړی مرحله کی شامل شول . چی د رفاه اداره به ددی ولایاتو په مختلفو ولسوالیو کی خپل دفترونه پرانیزی. له یوی خوا دا ولایات پاکستان او ایران ته نژدی دی چی بین‌المللی مرستی به لوژستیکی لحاظ اسانه ور ته رسیدلی شی ، او له بلی خوا ددی ولایاتو اکثریت خلک مهاجر شویدی چی بیرته‌اسکان‌او

د کنړونو د ولایت د تولو و لسوا لیو د سروی کا ر د پروگرام مطابق روان و . د کلیو د رنگ شویو کورونو سروی د ایباری د نظام د بیا ترمیم ، د زراعت دوباره ژوندی کولو د سړکو نو د جوړولو ، د مدا رسو د فعالولو ، په هره واسوالۍ کې د رفاه د دفترونو او گداموتو د جوړولو او دغه راز په علاقه داریو کې هم د صحی مرکزونو لپاره مطالعات سرته رسیدلی وو . د کنړ ، ننگرهار او لغمان ولایت ته لس زره ټنه غنم منظور سوی‌وه‌چه له هغه څخه ۳ ر مترک تنه غنم د کنړونو ولا یت ته رسیدلی وه او ۲ ر ټنه نور هم په هغی پسی د کنړ و لا یت ته لیږ دول شوی وو . د وته‌پور په لوی‌کانال باندی‌کار،کا ربه مقابل‌کی دغذا تر پروگرام لاندی سرته رسیدلی و . دانجنیری یوهیئت د ناوه پا س او اسعد آباد تر مینځ سړ ک سروی اوترمیم کړدلته هم‌د کار په مقابل کی غذائي مواد ورکړ شول‌دکنړدپاره‌یو . ۲ بستره‌ایز روغتون‌منظوراو تهیه شو چی تر نصب کیدو وروسته‌ئي په فعالیت پیل‌کاوه. د کنړ ولایت په هره ولسوالۍ کی یو مجهز کلنیک فعال کیدی .

په کنړ کی د ځنگاو نو د بیا ودانولو او سا تلو د پاره د رفاه لخوا ځانگړی توجه شویده او په هغه ولایت کی د مالدارۍ د تقوئي او تداوی په خا طر څو تنه و تر نر او د حیوا نا تو د ساتنی ماهران مقرر شوی وو او د یوی ا بتد ا ئي سروی وروسته یو حیوانی‌کلنیک هم هلته بر ا نستل‌کیدی د پروگرام له مخی د

حیواناتو اصلاح شوی نسلو نه لکه پسو نه او غواوی سیمی ته استول کیدی او د مصنوعی القاح پرو گرام هم عملی کیدی په کنړ کی نوی سرکونه جوړ ا و د زړو سړکونو تر میم پروگرام هم تر لاس لاندی وو .

د رفاه د پروگرام له مخی د یو طرح شوی پلان په اساس د ۱۳۶۸ کال تر نیمائی پوری دکنړ په ټولو ولسوالیو کی او هم په علاقه داریو کی دفترونه پرانستل کیدل او د سیمی خلکو ته ئی د دوی په مشوره خپل خدمات وړاندی کول .

په کنړ کی هم لکه د نورو ولایاتو په شان زموږ کا ر د خیر په یوه پروگرام پیل شو ی وو چی د شهیدا نو معیو بینو د بندیانو د کورنیو او امامانو سره به ورپا مرسته کیده .په نظر کی وو چی د کنړ ولایت نه بدخشان ته سړکونه وغزول شي .

## ۲ - پکتیکا ولایت :

د رفاه اداره د پکتیکا په مرکز خیر کوټ کی یو لوی دفتر او د غنمو او نورو امدادی موا د و د ذخیر ی غټ گودامونه لرل . رفاه د پکتیکا په ولایت کی په لاندی ډ و ل د فتر و نه او پرسونل درلودل :

### الف - خیر کوت : -

د پکتیکا د ولایت لپاره د رفاه مرکزی د فتر په خیر کوټ کی وو بنه گودامونه ئی لرل او لاندینی پرسونل پکی کار کاوه .

۱ - انجنیر محمد حسن د ولایت عمومی آمر .

۲ - ښاغلی صالح محمد د (زراعت) مسؤل

۳ - ښاغلی گل بهرام د(سروی اراضی) مسؤل

٤ - ښاغلی سید غلام رسول د(انکشاف دهات) مسؤل

۵ - ښاغلی محمد عسکر د(تعلیم و تربیه) مسؤل

## ب - وازه خوا :-

د وازه خوا په ولسوالی کی د رفاه پر سو نل په لا ندی دول ور .

۱ - ښاغلی خانزمان آمر

۲ - ښاغلی محمد سلیمان مامور

۳ - ښاغلی عبدالمجید مامور

## ج - ښرنه :-

د ښرنی په ولسوالی کی د رفاه پرسونل په لا ندی د و ل ور .

۱ - ښاغلی گلاب خان آمر

۲ - محمد نبی مامور

۳ - میر احمد مامور

## د - ارگون :-

د ارگون په ولسوالی کی د رفاه پرسونل په لاندی دول و .

۱ - ښاغلی محمد اسحق آمر

۲ - ښاغلی میرزا محمد مامور

۳ - ښاغلی نو ر محمد مامور

## ه - کومل :

د کومل په ولسوالۍ کې پرسونل په لاندې دول وو .

ښاغلی عزیز گل آمر

۲ - ښاغلی محمد سلیم مامور

۳ - ښاغلی سید امیرشاه مامور

## و - سپیره :

د سپیر ه په ولسوالۍ کې د رفاه پرسونل په لاندې د و ل و .

۱ - ښاغلی سید محبوب آمر

۲ - ښاغلی عید محمد مامور

۳ - ښاغلی محمد نادر مامور

پکتیکا ولایت ته د . . ۹ مترک ټنو نه زیات غنم استول شوی وو او نور . . ۲۱ ټنه‌هغه ولایت ته د رسیدو په حالت کې وویو مرکزی . . ۲ بستره ایز روغتون‌او په‌هره ولسوالۍ کې یو مرکزی صحی کلینیک په لظر کې وو . پدی و لا یت کې هم لکه په نورو ځایونو کې رفاه خپل کا ر د جها د د شهیدا نو د

اولاد ، د جهاد د معيوبينو ، د بنديانو د کورنيو او جوماتونو د امامانو سره په مرسته پيل کړي وو د پکتيکا د ولايت په مرکز او ولسواليو کې عمراني کارونه اکثراً د کار د غذا په مقابل کې تر پروګرام لاندې د مربوطه محل د قوماندانانو او ولس په مشوره سرته ورسيده خير کوټ د پکتيا او غزني ولايا تو لپاره عجالتاً د رفاه د پروګرامونو سيمه ايز مرکز و .

## ۳ - پکتياولايت :

څرنګه چې ګرديز او خوست کې د کابل کمو نست پوځ پروت دی او په دی ولايت کې د يوی ولسوالۍ څخه بلې ته د رفاه د امداد کاروانونه په اطمنان نقل او انتقال نشو کولای نو ځکه ددی ولايت اکثره ولسواليو ته د پکتيکا له لاری رسيدګی کيده . همدارنګه د پکتيا ولايت په بيلو بيلو ولسواليو کې د سروی کار سرته رسيدلی و او د دی ولايت په ولسواليو کې د رفاه دفترونه پرانستل شوی وه او عملاً ئې فعاليت کاوه .

## ۴ - غزني ولايت :

په غزني کې د رفاه د دفترونو د پرانستلو کار سر ته رسيدلی وو د هری ولسوالۍ د قوماندانانو سره خبری شوی وی او د ولايت عمومی آمر (عبدالجبار) تعين شوی وو د غزني ولايت زمونږ د عمومی پروګرام د دوهمی مرحلې هغه ولايت وو چې د

مرکزی افغانستان سره نښتی دی د دی ولایت پلان جوړ او په لاندی‌دول هلته د رفاه پنځلس دفتروله د پرانستلو په حال کی وه

۱ - د ولایت مرکز
۲ - اندړ ولسوالی
۳ - قره باغ ولسوالی
٤ - مقر ولسوالی
۵ - ناوه ولسوالی
٦ - جغتو ولسوالی
۷ - جاغوری ولسوالی
۸ - ناور ولسوالی
۹ - مالستان ولسوالی
۱۰ - اجرستان ولسوالی
۱۱ - خواجه عمری علاقه داری
۱۲ - ده یک علاقه داری
۱۳ - زنجان علاقه داری
۱٤ - گیرو علاقه داری
۱۵ - آب بند علاقه داری
۱٦ - گیلان علاقه داری

د غزنی ولایت دری ولسوالی (جاغوری ، ناور ، مالستان) هزاره نشین دی او په نورو ولسوالیو کی هم څه څه شته د

هغوی د قوماندانانو او مربوطه تنظیمونو سره خبری شوی وی هغوی هم د دی پروګرام بنه هرکلی کړی و. هغوی په خپلو سیمو کی د تعلیم یافته کسانو د لست په جوړولو بوخت وو او دغزنی ولایت ته . . . ۳ تنه غنم او لس صحی مرکزونه په نظر کی وه.

## ۵- لوګر :

د لوګر ولایت د رفاه د پروګرام په دوهمه مرحله کی شامل و د پل علم ، محمد آغه او بره کی برک د ولسوالیو سروی تکمیل شوی وه دغه سروی په هغه ولایت کی د رفاه لخوا ښاغلی آقا محمد او محمد داؤد چی دواړه د زراعت لیسانسه وه سرته رسیدلی وه او د سروی له مخی د لوګر د ولایت په ټولو ولسوالیو کی د رفاه دفترونه پرانستل کیدل .

## ٦- بامیان او وردګ ولایتونه

ددی دوو ولایتولو دمطالعی اوپلان کار د ۱۹۸۹ م کال د جولائی تراخره پوری تکمیل کیدی او د رفاه دفترونه پکی پرا- نستل کیدل دواړو ولایاتوته په اکثره دغزنی له لاری رسیدګی کیده دا دوه ولایتونه د مرکزی افغانستان په پروګرام او مرحله کی شامل وو.

## ۷- بدخشان ولایت :

که څه هم بدخشان درفاه د پروګرام په لمړی مرحله کی شامل و خو دژمی د واورو او د لارو د بندوالی په وجه مو و

نشوکړای چې هلته دفترونه پرانیزو خو دهوا د ګرمیدو په وخت کې مصمم ووچې درفاه دفترونه خلاص اوپه کارئې پیل وکړی .

## ۸ - ننګرهار ولایت :

څرنګه چې د رفاه کار امن او استقرار ته ضرورت لری نو دننګرهار ولایت په مرکز (جلال آباد ) دشدیدو جنګونو په وجه په هغه ولایت کې د رفاه کار پیل نه شو په هغو ولسوالیو کې چې دجنګ دساحې څخه نسبتاًلیری وی دسروی کارسرته رسیدلی وو اوبخپل وارپه دغو ولسوالیوکې درفاه دفترونو په کارپیل کاوه .

## ۹ - مرکزی او شمالی ولایات :

په مرکزی اوشمالی ولایاتو کې د رفاه د مرحله وار پلان مطابق درفاه دفترونه په نظر کې وه چه په دغو ولایاتو کې د سروی دکار دبشپړیدو وروسته دنقدی امداد له لاری چې انتقال ئې اسانه وی د سیمې د عمران او بیا ودانولو کار پیل کیدی خصوصاً د کاریزونو ، ویالو اوچینو د پاکولو د سرکونو د جوړولو او د ترمیمولو کار په لمړۍ مرحله کې نه په نظر کې وو .

## (ب) کویته :

د رفاه اداره دنوې کوئیتی دستلائت په تاون کې یوښکلی لوی او مجهز دفتر درلود چې د افغانستان ټولو هغو ولایاتو ته نې رسیدګی کوله کوم چې دبلوچستان د لاری لخوا اکمال کیدای شوه دکوئیتې په مرکزی دفتر کې لاندی کسانو کار کاوه .

۱ - ښاغلی قمرشاه دکویټی دمرکزی دفتر سرپرست

۲ - ښاغلی محمد عیسیٰ دکویټی دمرکزی دفتر اداری آمر

۳ - ښاغلی عبدالرؤف دکویټی د مرکزی دفتر مامور

۴ - ښاغلی بشیر احمد دکویټی دمرکزی دفتر د ارتباط آمر

۵ - ښاغلی عبدالسلام دکویټی دمرکزی دفتر دارتباط مامور

۶ - ښاغلی قلندر دکویټی دمرکزی دفتر دامنیت آمر

۷ - ښاغلی حاجی آغا جان دکویټی د مرکزی دفتر تحویلدار

۸ - ښاغلی محمد حسن دکویټی دمرکزی دفتر دریور

۹ - ښاغلی میرحمزه دکویټی دمرکزی دفتر اشپز

۱۰ - ښاغلی بخت محمد دکویټی دمرکزی دفتر پیاده

۱۱ - ښاغلی شرف‌الدین دکویټی دمرکزی دفتر پیاده

۱۲ - ښاغلی عبدالله دکویټی دمرکزی دفتر پیره دار

۱۳ - ښاغلی حبیب الله دکویټی دمرکزی دفتر پیره دار

د کویټی مرکزی دفتر دافغانستان په ولایاتو کی لاندی ځانګی اوپروګرا مونه درلودل .

## ۱ - زابل ولایت :

د زابل ولایت نهه ولسوالی اوعلاقداری لری چی په‌لهه وارو ولسوالیو او علاقداریو کی ئی د رفاه دفترونه پرانستل شوی وو او په عملی توګه یکی کار کیده. دزابل ولایت دتولو سیمو شوری تکمیل او احصائیی ئی ا تولی شوی وی چی د

هغوی په توحید سره دمربوطه پروژو پلان هم تکمیل شوی ؤدغه ولایت ته د زرتو غنمو لږیږ روانه وه . دشملزو په علاقه داری کی څلورو کتکوریو مستحقینو (یتیم ، معیوب ، بندي ، امام) ته په اطمنانی ډول دنورو متباقی سیمو سره یوځای دپروگرام مطابق مواد ویشل شوی و . دعمرانی پروژو پلان هم تکمیل او ددغه ولایت ، دسرکونو دجوړولو ، کاریزونو اوویالو دابادولو ، دزراعت دراژوندی کولو ، دکلیو د آبادولو . . کارونه هم پیل شوی وو ، د زابل ولایت هری ولسوالی اوعلاقه داری کی یو مجهز صحی مرکز په نظر کی وو ، د مدارسو جوړول هم د دی اداری د پلان له مخی تر سره کیدل .

دزابل په ولایت کی د رفاه د اداری ددفترونو پرسونل د اشپز ، تحویلدار او پیره دار څخه علاوه په لاندی ډول وه :

## الف ) کلات :-

کلات د زابل ولایت مرکز او درفاه مرکزي اداره د دغه ولایت د پاره همدلته وه چی لاندې پرسونل ئی درلود ( پدغه پرسونل کی پیاده ، پیره دار ، اشپز او تحویلدار شامل نه وو ) :

۱ - ښاغلی انجنیر محمد داؤد د زابل ولایت عمومی آمر

۲ - ښاغلی محمدافضل د زابل ولایت مامور

۳ - ښاغلی سیف الله دزابل ولایت مامور

د کلیو او کروندو ابادی ئی حق اولیت لری او هم دا چی تر څو سرحدی ولایات موږ د خپل پروگرام لاندی راوستلی نه وی نو دننه مرکزی او شمالی ولایاتو ته مرسته رسول عملی نده . دا ځکه په لار کی به ئی د سرحدی ولایاتو خلک د انتقال مزاحم کیږی چی مرسته تر موږ تیروی او نورو ته ئی وړی پداسی حال کی چی موږ هم عین احتیاج لرو .

بالاخره موږ هم نه کافی پرسونل درلود او نه تجربه نو لازمه وه د نژدی سرحدی ولایاتو څخه موکار پیل کړی وای او کرار کرار وړاندی تلای چی دغنی کدر ، تجربی او مالی امداد په پیداکیدو سره کرار کرار د فعالیت ساحه پراخیده او مرکزی افغانستان او بیا شمالی صفحاتو ته غځیده .

د هر سرحدی ولایت مرکزی دفتر او یا د ولسوالیو دفترونه د مرکزی ( دوهمی مرحلی ) د ولایاتو لپاره د اکمال د دفاترو حیثیت درلود . مثلاً موږ په پکتیکا کی د رفاه دفترونه درلودل چی مرکز لی خیر کوټ و . خیر کوټ د پکتیا اوغزنی لپاره هم زموږ د امداد منطقوی مرکز و . چی ددی دوو ولایاتو د اکمال لپاره اداره او گدامونه هلته موجود او فعالیت ئی کاوه . ده وخت وای نو د غزنی څخه به نور مرکزی افغانستان ته تلای او هلته به مو خپل دفترونه فعالولای او د خلکو د پاره به مو

۴ ـ ښاغلی صدری دزابل ولایت مامور

۵ ـ ښاغلی عبدالصمد د زابل ولایت دریور

## ب ـ شملزی :

د شلمزو په علاقه داری کی د رفاه پرسونل په لاندی دول و .

۱ ـ ښاغلی امین‌الله د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی خان‌محمد د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی محمداسمعیل د دفتر مامور

## (ج) اتغر :

د اتغر په علاقه داری کی د رفاه مامورینو په لاندی دول کار کاوه :

۱ ـ ښاغلی خیرمحمد د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی عبدالجلال د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی محمدگل د دفتر مامور

## (د) شینکی :

د شینکی په ولسوالی کی د رفاه دفتر دغه مامورین درلو- دل :

۱ ـ ښاغلی عبدالخالق د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی عبدالواحد د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی سیدرحمن د دفتر مامور

## ( ه ) شاه‌جوی

د شاه جوی په ولسوالی کی د رفاه د دفتر پرسونل په لاندی ډول و :

۱ ـ ښاغلی نظراحمد د دفتر آمر

| | |
|---|---|
| ۲ ـ عبدالرحیم | ددفتر مأمور |
| ۳ ـ بازمحمد | د دفتر مأمور |

## (و) ارغنداب :

دارغنداب په ولسوالی کی درفاه مأمورین په لاندی ډول وو .

| | |
|---|---|
| ۱ ـ ښاغلی حیات الله | د دفتر آمر |
| ۲ ـ ښاغلی نجی‌الله | د دفتر مأمور |
| ۳ ـ ښاغلی حاجی عبدالکریم | د دفتر مأمور |

## (ز) دایچوپان :

د دایچوپان په ولسوالی کی درفاه د دفترمأمورین په لاندی ډول وو .

| | |
|---|---|
| ۱ ـ ښاغلی ذینوم | د دفتر آمر |
| ۲ ـ ښاغلی صالح محمد | د دفتر مأمور |
| ۳ ـ ښاغلی میرزامحمد | ددفتر مأمور |

## (ح) میزان :

د میزان په سیمه‌کی‌درفاه د دفترپرسونل په لاندی ډول‌و .

۱ - ښاغلی عبدالرزاق د دفتر آمر

۲ - ښاغلی عبدالغنی د دفتر مامور

۳ - ښاغلی محمد صادق د دفتر مامور

## (ط) جلدک :

د جلدک د ولسوالۍ درفاه په دفتر کی لاندی مامورینو کار کاوه.

۱ - ښاغلی عبدالمنان د دفتر آمر

۲ - ښاغلی حمیدالله د دفتر مامور

۳ - ښاغلی ننګیالی د دفتر مامور

## ۲ - دکندهار ولایت

د کندهار ولایت ۱۳ ولسوالۍ او علاقه دارۍ لری په ټولو کی یی درفاه دفترونه موجود وو اوعملاً یی فعالیت کاوه. دکندهار په ولایت کی درفاه دفترونو دهغه ولایت دنظامی‌شورای او محلی قوماندانانو په مرسته په ټولو ولسوالیو کی ابتدایی سروی تکمیل او د کویټې مرکزی دفتر ته یی سپارلی وی چی دتوحید او تحلیل نه وروسته دپروژو په شکل تهیه او پدی‌برخه کی‌لازم عملی اقدام تر سره کیدی . زر ټنه غنم دکندهار ولایت ته پر لاره وه او خلورو مستحقو د لو ته د لومړی قسط په توګه ورکول کیدل نور امداد هم په هغه ولایت کی د عمرانی پروژو لپاره استول کیدی . رفاه د کندهار ولایت په هره ولسوالۍ

کی د تعلیم او تر بیی یو منظم پروگرام په نظر کی وو . او به هره ولسوالی کی یو مجهز صحی کلنیک پیش بینی سوی وو.

دکندهار په ولایت کی درفاه د اداري دفترونه او مامورین په لاندی ډول وو ( پدی کی تحویلدار ، اشپز ، پیاده او پیره دار شامل ندی .)

## (الف) دولایت مرکز :

دکندهار ولایت په مرکزی دفتر کی لاندی مامورینو کار کاوه .

۱ ـ ښاغلی عبدالباری دکندهار ولایت درفاه ددفترعمومی آمر

۲ ـ ښاغلی زقوم دکندهار ولایت درفاه ددفتر مامور

۳ ـ ښاغلی صالح محمد دکندهار ولایت درفاه ددفتر مامور

## (ب) سپین بولدک :

دسپین بولدک دولسوالی درفاه په دفتر کی لاندی کسانو کار کاوه .

۱ ـ ښاغلی گل محمد د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی عبدالحی د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی نور محمد د دفتر مامور

## (ج) معروف :

دمعروف دولسوالی درفاه په دفتر کی لاندی کسانو کارکاوه

۱ - ښاغلی عبدالباري د دفتر آمر
۲ - ښاغلی عبدالمالک د دفتر مأمور
۳ - ښاغلی عبدالله د دفتر مأمور

## (د) ارغيستان :

دارغيستان دولسوالۍ درفاه په دفتر کی لاندی کسانوکار کاوه .

۱ - ښاغلی حاجی عبدالرحيم د دفتر آمر
۲ - ښاغلی محمد قاسم د دفتر مأمور
۳ - ښاغلی روح‌الله د دفتر مأمور

## (ه) شاوليکوټ :

دشاوليکوټ دولسوالۍ درفاه په دفتر کی لاندی کسانو کارکاوه

۱ - ښاغلی اختر محمد د دفتر دآمر په توګه
۲ - ښاغلی نعمت الله د دفتر مأمور په توګه
۳ - ښاغلی حبيب‌الله د دفتر مأمور په توګه

## (و) خاکريز :

دخاکريزدولسوالۍ درفاه په دفتر کی‌لاندی کسانوکارکاوه

۱ - ښاغلی رحمت الله د دفتر آمر
۲ - ښاغلی همايون د دفتر مامور
۳ - ښاغلی عبدالحی ددفتر مأمور

## (ز) نیش :

دنیش د علاقه داری درفاه دفتر دالاندی مامورن درلودل.

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی محمد خان | د دفتر آمر |
| ۲ - ښاغلی فضل محمد | د دفتر مامور |
| ۳ - ښاغلی عبدالقادر | د دفتر مامور |

## (ح) ارغنداب :

دارغنداب په ولسوالی کی درفاه ددفتر مامورین دالاندی کسان وو.

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی عبدالحنان | ددفتر آمر |
| ۲ - ښاغلی شریف الله | ددفتر مامور |
| ۳ - ښاغلی فدامحمد | د دفتر مامور |

## (ط) میوند :

دمیوند دولسوالی درفاه ددفتر مامورین دالاندی کسان وو.

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی ښېتون | د دفتر آمر |
| ۲ - ښاغلی سید مهتاب الدین | د دفتر مامور |
| ۳ - ښاغلی محمد ابراهیم | د دفتر مامور |

## پنجوائی :

دپنجوائي دولسوالی درفاه ددفتر مامورین لاندی کسان وو :

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی کریم الله | د دفتر آمر |
| ۲ - ښاغلی آغا جان | ددفتر مامور |
| ۳ - ښاغلی مختار | ددفترمامو ر |

## (ک) دند :

د دند په ولسوالی کی درفاه مامورین لاندی کسان وو :

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی عبدالصمد | د دفترآمر |
| ۲- ښاغلی شیراحمد | ددفترمامور |
| ۳ - ښاغلی رحمت الله | ددفترمامور |

## (ل) دامان :

د دامان په ولسوالی کی درفاه لاندی مامورینو کار کاوه :

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی محمدالیاس | ددفترآمر |
| ۲- ښاغلی عبدالشکور | ددفترمامور |
| ۳- ښاغلی شرف الدین | ددفترمامور |

## (م) شکه :

دشکه دولسوالی درفاه مامورین په لاندی ډول وو :

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی عبیدالله | ددفترآمر |
| ۲ - ښاغلی مطیع الله | ددفترمامور |
| ۳- ښاغلی حفیظ الله | ددفتر مامور |

## (ن) شورابک :

دشورابک دولسوالی درفاه داداری مامورین په لاندی ډول وو :

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی فضل محمد | ددفترآمر |
| ۲- ښاغلی محمدسرور | ددفترمامور |
| ۳- ښاغلی نورمحمد | ددفتر مامور |

# د هلمند ولایت

د کندهار، هرات سرک دهلمند ولایت پر دوو بر خوویشی ،
پورتنی هلمند او ښکتنی هلمند. دسرک شمالی خواپورتنی هلمند دی
اودسرک جنوبی خوا ښکتنی هلمند بولی. درفا اداره د پورتنی هلمند
په ټولواوو ولسوالیواو علاقه داریو کی دفترونه لری دښکتنی هلمند
دپاره هم دقومندانانو سره د ځبرونه وروسته دفترونه خلاصیدل په
پورتنی اوښکتنی هلمند کی دسیمی ابتدائی سروی تکمیل او احصائیی
راټولی شوی وی چی دتوحیدنه وروسته دپلان له مخی ئی کارعملاً پیل
وودی ولایت ته په لمړی مرحله کی . . . ۱ ټنه غنم ورلیږل کیدل
او په څلورو مستحقو ډلو توزیع کیدل او همدا رنګه د غنمو نور
کاروانونه هم د(غذاد کارپه مقابل کی) پروګرام په اساس هلته رسیدل
سربیره پردی دګرشک لپاره یو مجهز روغتون جوړول او دالشکرګاه
روغتون تقویه کیدل هم په نظر کی وو په هره ولسوالی کی دپروګرام
سره سم یویوکلنیک په کار لویدی. رفاه دسیمی دخلکو داولادونو د
روزلو دپاره پراخ پروګرام ترتیب اوپه دغه پروګرام باندی کار
پیل شوی و همدغه راز څرنګه چی د هلمند ولایت یو پرمخ تللی
زراعتی سیمه ده نودزراعت دتقویی ، دکاریزونو اوویالو د پاکیدو
اوبیا ودانولو کار ته زیاته توجه کیدله.

پدی و لایت کی درفاه‌دفترونه اودهغوی مامورین په لاندی دول وو. پدی کی دریور، اشپز ، پیره‌دار اوپیاده شامل‌ندي.

( الف ) سنگین :

څرنگه چه‌دگرشک‌په‌مرکزکی محدحکومت وه‌نو دسنگین د ولسوالی درفاه دفتردگرشک‌د سیمی کارهم کاوه. د سنگین د فتر د پورتنی هلمندمرکزی دفتر هم و د رفاه مامورین‌اودهغوی وظیفی داوی .

۱ - ښاغلی عبدالکریم د هلمند د ولایت د رفاه د دفتر عمومي آمر .

۲ - ښاغلی احسا ن‌الله د هلمند د ولایت د رفاه د سنگین د دفتر آمر .

۳- ښاغلی جمال‌لدین د هلمند دولایت درفاه د دفترد سنگین د دفتر مامور .

۴- ښاغلی عبدالله د هلمند دولایت د سنگین د دفتر مامور .

## ( ب ) غورک :

د غورک په علاقه دا ری کی د رفاه مامورین په لاندی دول وو :

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی عبدالنبی | د دفتر آمر |
| ۲ - ښاغلی عبیدالله | د دفتر مامو. |
| ۳- ښاغلی محمداخلاص | ددفتر مامور |

## (ج) کجکی :

د کجکی په‌ولسوالی کی د رفاه په دفتر کی دی لاندی ورینو کارکاوه:

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی حبیب‌الله | ددفتر آمر |
| ۲- ښاغلی محمدصادق | ددفتر مامور |
| ۳- ښاغلی عبدالرحمن | ددفتر مامور |

## (د) موسی‌کلا:

د موسی کلا دولسوالی د رفاه مامورین په لاندی دول‌وه

| | |
|---|---|
| ۱ - ښاغلی محمدقاسم | ددفترآمر |
| ۲- ښاغلی محمد معصوم | ددفترمامور |
| ۳- ښاغلی عبدالستار | ددفترمامور |

## (ه ) باغران :

دباغران‌په ولسوالی کي درفاه مامورین په لاندی دول وو:

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی فیض‌محمد | د دفترآمر |
| ۲- ښا غلی معاذالله | د دفتر مامو ر |
| ۳- ښاغلی نورالله | د دفتر مامور |

## (و ) نوزاد :

دنوزاد په‌ولسوالي کي‌درفاه مامورین دالاندی کسان‌وو:

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی محمدآصف | د دفتر آمر |
| ۲- ښاغلی عبدالقادر | د دفتر مامور |
| ۳- ښاغلی محمدیعقوب | د دفتر مامور |

خدمت کولای مرکزی افغانستان به بیا په خپل وار د شمالی صفحاتو لپاوه اکمالاتی مرکز وای. پدی دول به په هره سیمه کی چی موږ کار پیل کړ دغه څخه دغه سیمه چی به پلار کی پرته وه، لمړی د مرستی په پروگرام کی شاملیده تر څو په لارکی د پرتو سیمو همکاری راسره وه او نوی سیمی ته به موسالمه رسیدگی کولی شوه. پدی دول زمونږ کاردیو څنځیر په شکل وو چی ورو ورو خپریده او ټول افغانستان ئی په بر کی نیوه. په پروگرام کی وه چی په یو کال کی به په ټول افغانستان ئی درفاه دفترونه خلاصیږی.




د افغانستان نقشه

## (ز) واشیر :

د واشیر په‌علاقه داره کي د رفاه د دفتر مامورین په‌لاندی دول وو :

| | |
|---|---|
| ۱- ښاغلی صدیق‌الله | د دفترآمر |
| ۲- ښاغلی عبدالباری | ددفترمامور |
| ۳- ښاغلی عبدالقیوم | ددفترمامور |

* * *

# د رتبې او معاشاتو د تثبيت فورمول

ددی له پاره چی د مامورينو د رتبې او معاشاتو د تثبيت په برخه کی د اسلام د مقدس دين له اساساتو سره سم ټولنيز عدالت تأمين شوی وی د ځويش خوری او واسطه بازی مخه جلوګيری شوی وی او له بلی خوا د هيواد د بيا ودانولو په چارو کی د ښه او سالم پر مختګ په مقصد د هيواد تعليميافته او مسلکی پرسونل تشويق شوی وی او درفاه د اداری چاری د کار اهل او باکفايته کسانو ته سپارل شوی وی،د رفاه اداری د خپلو مامورينو او نورو کارکوونکو د رتبو او معاشاتو د تثبيت له پاره اووه معيارونه ټاکلی وه چی هغه معيارونه په لاندی ډول دی:

۱ ـ تعليم ۲ ـ تجربه ـ ۳ مهاجرت ٤ـ جهاد (په دفتر او سنګر-کی ) ۵ ـ بنديخانه ٦ـ زخميتوب ۷ ـ شهيدان .

اوس به د هر معيار په باره کی په لنډ ډول بحث وکړو:

۱ ـ تعليم : د تعليم په برخه کی حداقل دريم صنف په نظر کی نيول شوی و . چی په ترتيب سره شپږم ، نهم ، دولسم ، څوارلسم ، ليسانس ، مافوق ليسانس ، ماستری ، مافوق ماستری او دوکتورا پکی شامل وو . د تحصيل د پورتنيو هر يوی درجی لپاره نمری ټاکل شوی وی چی دغه نمری له يو څخه پيل او تر لسو

پوری رسیدي . هر مامور به د خپلې تعلیمي سويې مطابق تاکلې نمره ترلاسه کوله . د مثال په ډول ددریم ټولګي فارغ به یوه نمره اخیسته او د دکتورا څښتن به لس نمرې ګټلې .

۲- تجربه : د تجربې د معیارونو د ټاکلو له پاره دروسمي شرمیدلی تجاوزد۱۳۵۸ دجدي لهشپږمې څخه دمخه درسمي ماموریت اوکارموده او ترفیعات په نظر کې نیول شوي وو . چې دغه رسمي رتبې له لسمې څخه شروع او تر لومړۍ رتبې پورې رسیدې .

د نوموړو رتبو مطابق نمرې ور ته ټاکل شوې وې چې له یوې نمرې څخه نیولې تر لسو پورې وې . د مثال په توګه د لسمي رتبې مامور لپاره یوه نمره ټاکل شوې وه خو دلومړۍ رتبې مامور له پاره لس نمرې ټاکل شوې وې او داسې نور . . . دمها جرت په دوران کې د مامور دکار تجربه هم په نظرکې نیول شوې وه .

۳ - مهاجرت : د مهاجرت مودې هم د یو مامور د رتبې او معاش په تثبیت کې مهم رول لوباوه . او دغه موده د ۱۳۵۷ لمریز کاله څخه تر ۱۳۶۷ لمریزکاله پورې ټاکل شوې وه . یو تن مامور به د مهاجرت د دوه کاله مودې څخه د یوې نمرې مستحق و . او که دمهاجرت موده به يې لس کاله او یا ترهغه اوږده وه نو د پنځو نمرو مستحق کیده .

٤ - جهاد : جهاد په دوه برخو ویشل شوی و الف : په سنګرکې ب : په دفترکې . ددغو دواړودولو موده لس کاله د۱۳۵۷

لمریز کاله څخه تر ۱۳۶۷ لمریز کاله پوری تاکل شوی وه او د دغو لسو کالو له پاره لس نمری تاکل شوې وې . هر مامور د خپل جهاد د تاکلی مو دی په اندول نمری تر لاسه کولی د مثال په ډول یو تن چی پنځه کاله جها د کړی و نو د پینځو نمرو مستحق و او چی یو بل به پوره اته کاله جهاد کړی و نو د اتو نمرو مستحق ګڼل کیده . خو لوستو نکی پوهیږي چی یو تن په عین وخت کی د جهاد په دوارو محاذ ونو دفتر او سنګر کی کار له شی کولی نو ځکه به یو مامور یوازی له یوی بر خی څخه د نمرو مستحق ګڼل کیده او بس . خو که چا به یو څه موده په سنګر کی جهاد کړی و او پا تی موده به یی په دفتر کی نو دا دواړه مو دی «وختونه» سره جمع کیدل د مثال په ډول ، یو ما مور دري کاله په سنګر کی جهاد کړی و او څلور کاله په دفتر کی نو نو موړی مامور به د اوو نمرو مستحق و .

قرباني : قرباني په دریو بر خو (بندیخا نه ، زخم او شهید) ویشل شوی وه .

۵ ـ بندیخانه :د بندیخا نی په برخه کی د بندیتوب مو ده‌دمعیار په حیث قبول شوي وه . او ددي مودي له پاره لس کاله په نظرکي نیول شوي وو . چي ددې لسو کالو مطابق لس نمرې ورته تا- کل شوې وې . د مثال په توګه ، که چیري یو تن دري کاله

بندیخانه تیره کړي وه د درو نمرو مستحق و او که نهه کاله بندیخانه یي تیره کړي وه د نهو نمرو مستحق و .

٦ ـ زخم :. د هغه مجاهد ماموړله پاره چي په خپل بدن به یي زخم (تپ) درلود په عمومي توګه دري حالته په نظر کي نیول شوي وو . کو چنی زخم ، د وه نمری ' منځنی(متوسط) زخم ؛ دری نمری او د بدن دیو غړي د پرېي کیدو (قطع کیدو) په حالت کی نوموړي مامور څلور نمرې تر لاسه کولي .

٧ـ شهید : دشهیدانو له پاره‌دوه کټګوری تاکل شوي وې:

الف : غیر فعا ل شهید : غیر فعال شهاد ت هغه شهادت ته ویل کیده چه د چا د کورنی غړی د بمبارد یا ګلو له باری په ذریعه مړه شوی وي . د غیر فعالو شهیدانو له پاره په یو تن شهید یوه نمره ؛ په دوو تنو دوه نمري په درو تنو دري نمري او په څلورو تنو څلور نمري او پنځو تنو پنځه نمري تعین شوي وې .

ب : فعال شهید : فعال شهادت هغه شهادت ته ویل کیږي چې‌دچا د کورنی غړی په مخا مخ جنګ یا سنګر کی مړه شوی وی د فعالو شهیدانو له پاره له شپږ نمرو څخه تر لسو نمرو پوری تاکل شوي وې په دې ترتیب چی د یوتن شهید له پاره شپږ نمرې ،: د دوو تنو له پاره اته نمرې د درو تنو له پاره لس

نمري فرضاً که د یو تن مامور به یو وړور او یو زوی شهیدان شوي وو نو د اته نمرو مستحق وو .

د رفا د اداري د دفتري مامورینو له پاره په پورتنی طرز - العمل پاندې د ښه پوهیدو او د دوی د کار د آسانتیا له پاره یوه فورمه جوړه شوې وه چي نوموړې فورمه په عین شکل سره دلته را نقل شوې ده . تاسی په دې فورمه کی وینی چي د ارزیابی دغه د مخه ذکر شوي اووه معیارونه ، د هرې کټګورۍ نمرې ، دمامورینو رتبی اود دوی دمعاش‌اندازه ټول‌پکی ځای شوی دي .

د دغی فورمی له مخی له یو مامور سره د یوې لنډې مر - ی ( انټرویو ) په نتیجه کی د نوموړي مامور معاش او رتبه په ډیری آسانۍ سره تثبیت کیدای شي - د مثال په ډول ، احمد یو تعلیمیافته مهاجر دی چي په ۳۵۲ ؛ لمریز کال کی د کابل پو - هنتون داقتصاد له پوهنځی څخه فارغ دی اوپه ۱۳۵۳ لمریزکال کی یی د هغه وخت په حکومت کی په رسمی کار پیل کړی دی . په ۱۳۶۲ لمریز کال کی دروسانود زیات ظلم په نتیجه کی کا - وندی هیواد پاکستان ته مهاجر شوی دی . چی شپږ کاله یی دلته جهاد کړی دی . دوه کاله یی په هیواد کی د ننه په سنګر کی او څلور کاله د لته د بیهوره په دفتر کی . په ۱۳۶۰

امریزکال کې د پل څرخي په زندان کې یو کال بندي شوی هم دی ، اوس داحمد رتبه او معاش د ذکر شوی فورمې له مخې په لاندی ډول ټاکو :

| | | | |
|---|---|---|---|
| تعلیم | : | لیسانس | ۶ نمرې |
| تجربه | : | شپږمه رتبه | ۵ نمرې |
| مهاجرت | : | شپږ کاله | ۳ نمرې |
| جهاد | : | شپږ کاله | ۶ نمرې |
| قرباني | : | بندیخانه یوکال | ۱ نمره |

مجموع نمرات : ۲۱

اوس د ټولو نمرو مجموعه چې « ۲۱ » کیږی په اوو « ۷ » کټګوریو ویشو . چې حاصل د تقسیم یې « ۳ » راوزي ، اوس که په فورمه کې «۳» عددته وګورو نو ـمدستي پوهیږو چه احمد « ۸ » رتبه او د معاش اندازه یې ( ۲۵۰۰ ) کلداری دی ، د لیسانسی مسلکی امتیاز - ۸۰۰ - دی هغه ورسره جمع کوو چې ( ۳۳۰۰ ) کلدارې شي، د نوموړی معاش - ۳۳۰۰ - کلدارې تثبیت شو. په فورمه کې دا هم تثبیت شوی چې که څوک په افغانستان کې د ننه کار کوی - ۵۰ - فیصده معاش اضافه ورې . که احمد په افغانستان کې د ننه کار وکړي نو - ۴۹۵۰ - کلدارې معاش به یې وي .

# د افغانستان د بیا ودانولو اداره ، رفاه ،

( د تثبیت معاش فورمه )

| شمېره | مشخصات / نمره | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تعلیم | صنف ۳ | صنف ۶ | صنف ۹ | صنف ۱۲ | صنف ۱۴ | لسانس | مافوق لسانس | ماستري | ایم فیل | دکتورا |
| ۲ | تجربه | رتبه ۱۰ | ۹ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۳ | هجرت | ۲ کاله | ۴ کاله | ۶ کاله | ۸ کاله | ۱۰ کاله | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۴ | [illegible] – [illegible] | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۵ | [illegible] – [illegible] | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۶ | [illegible] – [illegible] | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۷ | [illegible] – [illegible] | | کم | متوسط | دغري قطع | | | | | | |
| | [illegible] – [illegible] | غیرفعال ۱ تن | غیرفعال ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | فعال ۱ تن | | فعال ۲ | | فعال ۳ |

| رتبه | درجه | معاش | د تحصیل درجه | مسلکي امتیاز |
|---|---|---|---|---|
| اول | ۱۰ | ۶۰۰۰ | صنف ۱۲ | ۳۰۰ |
| ۲ | ۹ | ۵۵۰۰ | 〃 ۱۴ | ۴۰۰ |
| ۳ | ۸ | ۵۰۰۰ | 〃 ۱۶ | ۸۰۰ |
| ۴ | ۷ | ۴۵۰۰ | فوق لسانس | ۱۰۰۰ |
| ۵ | ۶ | ۴۰۰۰ | ماستری | ۱۵۰۰ |
| ۶ | ۵ | ۳۵۰۰ | M-Phil | ۱۸۰۰ |
| ۷ | ۴ | ۳۰۰۰ | دکتور | ۲۰۰۰ |
| ۸ | ۳ | ۲۵۰۰ | | |
| ۹ | ۲ | ۲۰۰۰ | | |
| ۱۰ | ۱ | ۱۵۰۰ | | |
| تحویلدار و معتمد | | ۲۰۰۰ | | |
| دریور | | ۱۵۰۰ | | |
| پیره دار | | ۷۰۰ | | |
| پیاده | | ۱۰۰۰ | | |

یادونه

په دننه افغانستان کي وظیفه اجرا کول ۵۰ فیصده اصل معاش متطقوی امتیاز لري.

# د تسلیمی دوره

هغه سامان وسائل او دفترونه چی د محترم دوکتورفاروق‌اعظم یا د هغه د نماینده له خوا و محترم استاد برهان‌الدین ربانی یا د هغه با صلاحیت نماینده ته په پښور او کویټه کی تسلیم سویدی:

هر چا ته معلومه ده چی رفاه د افغانستان د بیا ودانیدو لپاره لنډنی او یوازنی نوی اداره وه چی د صفر څخه ئی کار پیل او په ډیره لږ موده کی ئی د توجه وړ قابل امید کارونه وکړه. که دا اداره په همدا حال پاته وای ښائی چی اوس به ئی په ټول افغانستان کی نمایندگی درلودای او د افغانستان ټولو خلکوته به ئی د خپل توان سره سم‌مرستی او امداد رسولی وای. څرنگه چی محترم استاذ برهان‌الدین ربانی عالم او نیک سړی دی نوهیله ده چی دا اداره تر ښخوا ښه مخ ته ولاړه شی. دا ځکه د تکلیف ورځی خو اولی وې چی تیری شوې. د رفاه د اداری سره نه د مجاهدینو اسلامی اتحاد مالی مرسته وکړه، نه تنظیمونو او نه د مجاهدینو حکومت. کومو تنظیمونو چی حکومت تائیداوه عفو ویل چی دا اداره باید مستقیماً د مجاهدینو د حکومت تر هدایت

لاندې کار وکړی خو بالمقابل هغه تنظیمونو چې د حکومت مخا
لف وه هغو وبل چې دا اداره باید د حکومت د چوکات څخه د
باندې کاروکړی . زموږ شرایط داسې وه چې دواړه ډلې مو بایدخفه
کړې نه وای خو اداره مو د خپل مظلوم ملت په خدمت کې
ساتلې وای . له بلې خوا په لومړیو وختو کې څرنګه چې اداره
نوې وه چاته ئې کفایت معلوم نه ؤ چا د هغې سره مرسته نه
کول او یا حدا قل اعتماد ئې نه وو چې آیا دا موسسه به پر پښو
ودریږي او که به ژر له منځه ولاړه شي . ددې لپاره چې موږ
خپل لیاقت او د خپل ولس درد او کفایت ښودلی وی او عملاً
دا ثبوت کړو چې زموږ په خلکو کې توان شته چې که موقع
ورکولې شي په شاقه شرایطو کې هم مطلوب کار کولای شي
نو دا اداره لومړی دملی اسلامی محاذ په خصوصی مالی‌مرسته چې
جنا ب دکتور فاروق اعظم د هغه معاون دی فعاله شوه . ژر ئې
کار خلکو ته ښکاره شو او ټولو ته د دې ا دا ر ې د ر و ښا نه
راتلونکې په باب امیدواری پیدا شوه نوځکه ځینی خارجي موسساتو
په نیولی لا س مرستې پیل کړې چې وګوری چې که دا مرستې
سمې ځای ته ورسیږی نوری به ور کوی . په دغو موسیساتو کې
یوه ( *U.SAID* ) وه چې د رفاه د مرکزی د فتر کرا یه
فرنیچر او وسایل ئې مرسته وکړه څلور موټران ( دوه دوه سیټه
ټویوتا پیکپان اودوه سوزوکی جیپ موټران ) د رفاه سره مرسته
وکړه چورروسته بیا تسلیم شول او اسناد ئې ضمیمه دی .

په ولایاتو او ولسوالیو کی د رفاه د اداری دپرانستلو او کار طریقه دا وه چی لمړی به مونږ د هر ولایت د قوماندانانو ولایتی شورای سره مشوره کوله. که به ولایتی شورای په هغه ولایت کی نه وه نو د هغه ولایت د مرکز د قوماندانو سره به مو جلا جلا او بیا یو ځای مجلس کاوه خپل پروگرام به مو ور ته تشریح کاوه دوی ته به مو د هغه گټی او ضرورت وایه او د هغوی همکاری به مو غوښتله، که به هغوی پوښتنی درلودی مونږ به ځواب ور ته وایه او بالاخره چی به ئی قناعت و کړ نو بیا به مونږ ورته ویل چی څنگه د رفاه دفتر ستاسو په سیمه کی فعال کیدای شی؟ هغوی ته به مو غوږ نیوه چی هغوی را ته لاری وښیی، هغوی به د دوی په سیمه کی زمونږ ددفتر دفعالیدو طریقه او لاری چاری هم راوښودلی د هغه دامنیت ذمه واری به ئی هم په غاړه واخیستله د دفتر سره به ئی د همکاری وعده هم وکړه.

دغه دول طریقه مونږ په ولسوالیو کی هم د رفاه د دفتر د پرانستلو لپاره استعمالوله، د یوی ولسوالی د ټولو تنظیمو نو د قوماندانانو سره به مو مشوره کوله، د هغوی یوه شورای مو جوړوله او دی شورای به زمونږ د دفتر سره همکاری کوله او د هغوپه مشوره به په نوموړی ولسوالی کی کار سرته رسیده چی پدی دول مونږ په نوموړی سیمه کی د قوماندانانو د اتفاق باعث هم وو اوداسی یوه سالمه فضأ به مو مینځ ته راووړه چی د بیرته ودانولو (اعمار مجدد) کار به په امن او تفا هم سرته ورسید

د ملګرو ملتو موسسی (*UNOCA*) دکنړ لپاره د ۱۴۰۰ تنو ، غنمو، دپکتیا ، پکتیکا او غزنی د هر یوه لپاره ۳۰۰۰ تنه غنم او د زابل ، کندهار او هلمند دهر یوه لپاره هم ۳۰۰۰ تنو غنمو وعده کړیوه او دکابل او شاوخوا سیمو لپاره د لس زره مترک تنو غنمو بند و بست شوی وو چی په دی ډول ۲۹۴۰۰ مترک تنه غنم د جولای ۱۹۸۹ پوری رفاه ته تسلیمېدل .

چی د هغه جملی څخه څه غنم کنړ ، پکتیکا او زابل ته ولاړل همدا راز ۲۰۰ بستره مجهز جراحی روغتون چه د (*American Overseas Doctors InC*) له خوا مرسته شوی وه د کنړ ولایت لپاره تهیه شوی وو چی متاسفانه په کنړ کی د نصب فرصت ئی پیدا نشو او ټول مکمل الاسباب د رفاه نوی اداری (محترم استاد ربانی )ته د دولت د محترم رئیس په امر تسلیم کړی شوه بل دوه سوه بستره ایز روغتون د پکتیکا او دریم د کندهار د شاولیکوت لپاره بر لاره وو چی د رفاه د اداری د بدلون په وجه ئی صدور و ځنډېد .

د رفا اداری یو مرکزی دفتر په پیښور بله نمایندګی په کوئټه کی درلوده د کنړ ، پکتیکا ، زابل ، کندهار او هلمند په ولسوالیو او علاقداریو کی ئی منظم دفترونه درلودل . په لوګر او غزنی کی مطالعات تکمیل شوی وه او ژر وه چی هلته د رفاه دفترونه و پرانستل شی د رفاه اداری په دننه افغانستان کی په هره ولسوالی

کی خپلو دفتروته دمامورینو لپاره داوسیدلو او کار وسایل برابر کړی وو چی تر اوسه هم هلته شته هر ولایتی آمر ته یی یو موټر ورکړی وه همداراز په ډیرزیارسره دهمدی ټولو ولسوالیو دزراعت مالداری ، تعلیم ،صحت ، سرکانو او دآبیاری د نظام سروی گانی تکمیل شوی وی ( دسروی فورمه دلته ضمیمه ده ) . دا فورمی د احصائی د یو تکړه متخصص ( بشیرالله خان ) او ملگرو له خوا چی پیښور دپوهنتون داحصائی دپوهنځی څخه استخدام شوی ووتحلیل اوتجزبه کیدي اودهغه څخه په بین المللی معیارپلان او پروژې جوړیدی چه دا ټول اسناد نوی اداری ته تسلیم شویدی چی په لیږ کار بین المللی مراجع ته د قبول وړ او د مرستو د راجلب سبب گرځیدې . په دی ترتیب د رفاه اداره دجهش داسی یوی مرحلی ( Take off )ته رسیدلی وه چی په لیږ توجه ئی ډیر کار انجامولای شوای . و السلام

جدول اثاثیه دفترمرکزی وزارت اعمار مجدد

| | اسم جنس | تعداد | اسم تسلیم دهنده | اسم تسلیم گیرنده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | میز تحریر دفتری | ۱۱ پایه | انجنیر عبدالرحمن | [illegible] | [illegible] |
| ۲ | میز مجلس | ۲ 〃 | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۳ | میز مکمل انجنیری | ۳ 〃 | 〃 | 〃 | [illegible] |
| ۴ | میز خورد چای خوری | ۳ 〃 | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۵ | چوکی محرک | ۱۰ 〃 | 〃 | 〃 〃 | [illegible] |
| ٦ | الماری فلزی | ۱۰ 〃 | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۷ | چوکی فلزی | ۲۸ 〃 | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۸ | چوکی بازودار | ۲۰ بیست پایه | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۹ | الماری چوبی | ٦ پایه | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۱۰ | کوچ سه نفری | ۲ دودانه | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۱۱ | چوکی انجنیری | ۳ پایه | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۱۲ | تایپ انگلیسی | ۲ 〃 | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۱۳ | موترسوزوکی (۲٦٦٤) | یک عراده | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| ۱٤ | تیلیفون (سه عدد) | ۲ پایه | 〃 〃 | 〃 〃 | |
| | | | [illegible] | [illegible] | |
| ۱۵ | موتر تویوتا (پیکپ) ۴×۴ | یک عراده | | انجنیر محمدجان | Eng. no. 1574639 PRL 5716 |
| ۱٦ | موتر تویوتا (پیکپ) ۴×۴ | یک عراده | | انجنیر محمدحسن | Eng. no. 1574640 PRL 5717 |
| ۱۷ | موتر سنندکی جیپ (۴×۴) | دو عراده | USAID | رضا | Eng. no. 783016 7598 |
| ۱۸ | موتر تویوتا (دوکینه ۴×۴) | دو عراده | 〃 | 〃 | Eng. no. 1435208 Eng. no. 1540191 |

قرار شرح فوق به تعداد ( ~~۱۴~~ ۱۸ ) قلم مواد واثاثیه دفترمرکزی ترتیب گردیده صحت است.

| | نوع و مشخصات جنس | تعداد به رقم | تعداد به تحریر | امضا تسلیم شونده | امضا تسلیم دهنده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کتابچه یادداشت به سایز بزرگ | ۱۸ | هژده عدد | [illegible] | [illegible] | [illegible] |
| ۲ | دوسیه کاغذی | ۹ | نه عدد | 〃 | 〃 | [illegible] |
| ۳ | پاک کلان برنده خاکی | ۱۱ | یازده درجن | 〃 | 〃 | [illegible] |
| ۴ | کتابچه یادداشت دفتری | ۵۲ | پنجاه و دو | 〃 | 〃 | |
| ۵ | وایتر تیپ | ۹ | نه درجن | 〃 | 〃 | |
| ۶ | کاغذ سفید | ۱۳ | سیزده بند | 〃 | 〃 | |
| ۷ | پاتله دانی برنده نخودی | ۱۰ | ده عدد | 〃 | 〃 | |
| ۸ | گیراه کاغذ | ۲۲ | بیست و دو عدد | 〃 | 〃 | |
| ۹ | سوزن استپلر | ۳ | سه بکس ۶۰ قطی | 〃 | 〃 | |
| ۱۰ | فیته تایپ حروف نویسی | ۱۰ | ده قطی | 〃 | 〃 | |
| ۱۱ | گیراه جنتری سوزنی | ۵ | پنج سیت | 〃 | 〃 | |
| ۱۲ | دوسیه کاغذی | ۸۵ | دوصد و هشتاد و پنج | 〃 | 〃 | |
| ۱۳ | پنسل پاک | ۱ | یک درجن | 〃 | 〃 | |
| ۱۴ | پنسل | ۱۳ | سیزده درجن | 〃 | 〃 | |
| ۱۵ | ماشین سوراخ کاغذ | ۶ | شش عدد | 〃 | 〃 | |
| ۱۶ | رنگ پلی کان | ۲ | دو درجن | 〃 | 〃 | |
| ۱۷ | قلم خودکار | ۹ | نه درجن | 〃 | 〃 | |
| ۱۸ | قلم توش | ۹ | نه درجن | 〃 | 〃 | |
| ۱۹ | خط کش | ۴ | چهار عدد | 〃 | 〃 | |
| ۲۰ | سکاچتیپ دانی | ۹ | نه سیت | 〃 | 〃 | |
| ۲۱ | کاغذ تیپ | ۵ | پنج کده | 〃 | [illegible] | |

| ردیف | نوع و مشخصات | تعداد (رقم) | تعداد (به حروف) | امضاء تسلیم شونده | امضاء تسلیم دهنده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ماشین احتیلر | ۷ | هفت سیت | [illegible] | [illegible] | [illegible] |
| ۲۳ | قلم خود کار | ۱۵۰ | یکصد پنجاه | // | // | [illegible] |
| ۲۴ | سرپطو | ۱۲ | دوازده | // | // | [illegible] |
| ۲۵ | پیان پیان | ۳ | سه دانه | // | // | |
| ۲۶ | چاینک چینی | ۲ | سه دانه | // | // | |
| ۲۷ | پیاله چای خوری ... [illegible] | ۱ | یک درجن | // | // | |
| ۲۸ | دیگ بخار ده لیتره | ۱ | یک دانه | // | // | |
| ۲۹ | کیلا ... [illegible] | ۲ | دو دانه | // | // | |
| ۳۰ | چاینک آب ... کیلا ... [illegible] | ۱ | یکدانه | // | // | |
| ۳۱ | کاغذ دانی پلاستیکی | ۶ | شش دانه | // | // | |
| ۳۲ | خاکستردانی | ۱۰ | ده دانه | // | // | |
| ۳۳ | دست پاک و روی پاک | ۴ | چهار دانه | // | // | |
| ۳۴ | ایکشر | ۴ | چهار دانه | // | // | |
| ۳۵ | دستر خوان پلاستیکی | ۶ متر | شش متر | // | // | |
| ۳۶ | لوته پلاستیکی | ۴ | چهار دانه | // | // | |
| ۳۷ | قاشق | ۱ | یک درجن | // | // | |
| ۳۸ | زنت سرمیزی برقی و غیر برقی | ۲ | دو دانه | // | // | |
| ۳۹ | چراغ سرمیز | ۱ | یک دانه | // | // | |
| ۴۰ | آیینه پولی ... ۶۰ ۶۰ | ۱ | یک دانه | // | // | |
| ۴۱ | چپلی پلاستیکی | | دو جوره | // | // | |
| | [illegible] | | | | | |

[illegible]

جدول تشریح موتر $\frac{2664}{PRM}$ جیپ سوزکی به قید کیلومتر 11590

| شماره | اسم جنس و نوعیت آن | تعداد به رقم | تعداد به حروف | امضاء تسلیم گیرنده | امضاء تسلیم دهنده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | موتر جیپ سوزکی $\frac{2664}{PRM}$ انجن ع | ۱ | یکعراده | | | |
| ۲ | رنج $\frac{15}{12}$ $\frac{14}{17}$ | ۲ | دودانه | | | |
| ۳ | جک معه راد | ۱ | یکدانه | | | |
| ۴ | پلاس خورد | ۱ | یکدانه | | | |
| ۵ | ویل فانه | ۱ | یکدانه | | | |
| ۶ | پیچکش | ۱ | یکدانه | | | |
| ۷ | پلک فانه ـ خریطهٔ کرمچی خورد | ۱ ۱ | یک یک دانه | | | |
| ۸ | کلید سویچ | ۱ | یکدانه | | | |
| ۹ | تایر اشتپنی معه ویل و چهار حلقه تایر نصب موتر جمله | ۵ حلقه | پنج حلقه | | | |
| ۱۰ | جواز سیر موتر | ۱ جلد | یک جلد | | | |

قرار فوق به تعداد ده قلم مواد فوق‌الذکر معه خریطه کرمچی برای برادر محمد کبیر ولد آغا جان تسلیم داده شد. با احترام

UNITED STATES AGENCY FOR INTERNATIONAL DEVELOPMENT

OFFICE OF THE AID REPRESENTATIVE

January 29, 1989

American Embassy
Islamabad, Pakistan

Dr. Farouk Azam
Director
Mujahideen Project for Reconstruction
of Afghanistan (MPRA)
Peshawar, Pakistan

Ref: Grant-in-AID Transfer of Motor Vehicles

Dear Dr. Azam

Pursuant to the Authority contained in the Foreign Assistance Act, as amended, and for the purpose of providing humanitarian assistance to the people of Afghanistan, the Agency for International Development hereby transfers title to:

MPRA:

1) Suzuki Jeep 4x4 Two Units:
Chassis No. 302657 Engine No. 783016
300951 757354

2) Toyota Hilux Crewcab Two Units:
Chassis No. LN65-0056639 Engine No. 2L-1435208
-0064072 -1540191

Please acknowledge receipt of this grant by signing the original and all copies. Retain a copy for your files and send the original and remaining copies to the undersigned.

Grantee, by receipt of this grant, agrees to provide USAID, upon request, evidence of the use and disposition of these vehicles.

Sincerely yours,

John Miller
Acting A.I.D. Representative

By my signature I hereby acknowledge my receipt of this Grant:

Dr. Farouk Azam, Director
Mujahideen Project for
Reconstruction of Afghanistan

Clearance: O/AID/REP:VRMahan
RLA/CC/ :JMay

(۹)

بسم الله الرحمن الرحیم

**Reconstruction Authority**
**For Afghanistan**
**( RAFA )** Quetta
**No.** **Date :**

**دافغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد**
**دافغانستان د بیا ودانولو اداره ( رفاه )**
کوټه
نمبر ۱ نیټه ۱۳۶۸/۳/۳۱

بسم الله الرحمن الرحیم

د رفاه د اداري د تسلیمي پاڼه

زه سراج احمد د حاجي غلام محمد زوی د ادارې چارو مامور او تحکیمي مسئول اقرار کوم چه وروستی د

قمر ۲۱ تیټه ولو. امیر محمد چه د نوموړی ادارې سرپرست وظیفه ئې په غاړه درلوده ټول مالي او

هغه اسناد او نقدې چه تعداد ئې ټول مجموع د اسنادو او نقدو مبلغ -/122000 = روپۍ کلدار

او شپږ زره کلداري کیږي اسناد راته تسلیم کړل. او په مقابل کښې ئې دا سند ورکول شو

د ضرورت په وخت کښې استفاده څنې وکړای شي

والسلام

ما د ۹ ساعتی ترسره حال د جناب دکتور فاروق اعظم په نمایندګۍ

د رفاه د ادارې سیاسي او استاد برهان الدین رباني نماینده ته

تسلیم کړی

Samihad

دافغانستان اسلامی جمهوری دولت
مسئول احیا و انکشاف
رفاه
RAFA
Reconstruction Authority for Afghanistan

مدیر عبدالغفار
(رئیس اداره افغان کوټه)

وکیل سوا العلیق سو

فاروق اعظم

د هغه دوه سوه بستریز روغتون د تسلیمي سند چې د کنړ لپاره تهیه شوی وو .

ع 651 مورخه ۲۲/۸/۸۹

حکومت اسلامی افغانستان

وزارت صحت عامه

مدیریت عمومی قلم مخصوص

سکرتریت

حضور جناب محترم داکتر فاروق اعظم

وزیر تعلیم و تربیه حکومت اسلامی افغانستان !

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

اینک سه نفر هئیت هر یک !

۱– محترم دوکتور سید فضل الربانی رئیس طب معالجوي .

۲– محترم دوکتور محمد ناصر صافی رئیس خدمات صحی اساسی

۳– محترم سید نور محمد شاه رئیس تفتیش این وزارت را حضور محترم تان معرفی مینمائیم سند Disaster Package هسپتال که محترم دوکتور سید فضل الربانی رئیس طب معالجوي این وزارت در باره با شما در تماس شده به ایشان تسلیم نموده این وزارت را ممنون سازید .

با احترام

(دوکتور نجیب الله مجددي)

معین وزارت صحت عامه

هیئت سه نفره وزارت صحت عامه هسپتال Disaster Package را کل الاسباب از نزد محترم داکتر فاروق اعظم تسلیم نمود

لاندی کسان د رفاه د مرستو څخه وړیا استفاده کولای شی :

۱- **د شهید کورنی** : څوک چه په جهاد کی هر چیری شهید شوی وی د هغه کورنی د خپل اوسیدلو په ځای کی د مرستی مستحقه ده . که چیری د یوه مجاهد کورنی په یوه سیمه کی اوسیږی او دی خپله په بله سیمه کی جهاد کوی او شهید کیږی . د نوموړی شهید د شهادت د محل قومندان د ده استحقا- ق نشی اخیستلای بلکه د نوموړی شهید ورثه پخپل اصلی محل کی چیری چی ژوند کوی د مرستی مستحقه ده .

۲ - **د جهاد معیوبین** : ټول هغه کسان چی په سنگر ، بمبارد ، مین او بل هره ذریعه چی د جنگ څخه ناشی وی ، معیوب شوی وی د رفاه د وړیا مرستو څخه گټه اخلی . معیوب هغه چا ته ویل کیږی چی لاس یا پښه ئی په بند یا تربند لوړ پری شوی ، دواړه سترگی ئی د لیدو څخه عاجزی شوی او یا داسی فلج وی چی د کار کولو توان نلری . داسی عصبی ناروغ هم په دغه ډله کی شامل دی چی د کلی د امام او خلکو په شاهدی د خپل بدن پر غړو کنترول و نلری .

۳ - **سیاسی بندی** : هغه کورنی چی یو یا څو غړی ئی سیاسی بندی وی . هغه سیاسی بندیان چی د کمونستانو په ابتدا کی یا وروسته بیول شویدی او تراوسه ئی درک ندی معلوم هم په دغه ډله کی شامل دی .

زمونږ اصول داوه چې په هر ولایت کې مود هماغه ولایت فني
کسان پخپل دفتر کې مقررول صرف ولایتي لوی آمر به د هماغه
ولایت څخه نه وو ، بلکه د یو همجوار ولایت به وو . دغه راز دیوی
ولسوالۍ آمر به ده غې ولسوالۍ د خلکو څخه نه وو بلکه د نوموړی
ولایت د یوی بلې ولسوالۍ څخه به وو خو متباقي ټول مامورین
به د هماغه ولایت او د ولسوالیو خلک وه تر څو هر چا له یوی
خوا خپلې سیمې ته خدمت کړی وی او له بلې خوا د جنګ شرایط
دی د یو ولایت خلک نشي کولی په آزادانه توګه په بل ولایت
کې د مامور په صفت کار وکړی او هم د هر ولایت او ولسوالۍ
خلک د خپل ولایت او ولسوالۍ د خلکو په ژبه ، کلچر ، عادت
رواج او مشکل پوهیږی او تر نورو کسانو موثر کار کولای شی
خو آمرین مو ځکه د هغې سیمې خلک نه مقررول چې پخپله
سیمه کې تنظیمي او قومي کشمکش دده پر کار بد اثر و نکړی او
خلک تهمت پرونه لګوی چې دی دا پروګرام د خپل قوم ، کلی
اویا تنظیم په ګټه چلوی بلکه یو بیګانه سړی وی چې ټولو ته
په یو نظر ګوری خو دو مره بیګانه هم نه چې په ژبه او رسم او
رواج ئې هم پوه نه وی مثلاً مونږ په کنړ ولایت کې انجنیر ـ
محمدجان درفاه ددفتردآمر په حیث مقرر کړی وه چې د کنړ د همجوار
ولایت لغمان څخه وو چې دیر کلونه ئې په کنړ کې کاراو ماموریت
کړی وو په هغه ولایت کې دیر بلد و و د غه راز انجنیر محمد

## ٤ - د جومات سترملا امام :

**یادونه : الف )** یوه کورنۍ صرف د لوې برخې مرستې مستحقه ده . که څه هم تر یوه زیات شهید ، معیوب ، سپاسي بندي او ملا امام ولري .

**ب )** صرف هغو کورنیو ته پورتنۍ مرستې رسیږي چې د افغانستان په داخل کې اوسیږي .

**ج )** یوه کورنۍ هغه څو تنو ته ویل کیږي چې د خپلوۍ په اساس په یوه دیگ او یوه دستر خوان سره شریک وي .

**د )** یوه متوسطه کورنۍ اته (۸) تنه ده . عجالتاً ټولو مستحقو کورنیو ته که لوی وي که کوچنۍ د یوې متوسطې کورنۍ په نظر کتل کیږي .

# درفاه د مصارفو لند راپور

## ( له پيله تر تسليمي پوری )

د رفاه مصارف :

**الف** ) په پيښور پوری مربوط د مرکز او د افغانستان په دننه کی مصارفات :

| | | |
|---|---|---|
| ۱ - دپرسونل معاشات (داخل او مرکز) | ۱۸۳۸۸۹ | کلداری |
| ۲ - د مرکزی دفتر مصارفات | ٦۲۱۳۳ | » |
| ۳ - په داخل کی دنمايندگيو مصارفات | ۱٦۸۱۹۰ | » |

**ب** ) په کوئته پوری مربوط دمرکز او د افغانستان په د ننه کی مصارفات :

| | | |
|---|---|---|
| ۱ - د پرسونل معاشات | ۲٦۵۰۰۰ | کلداری |
| ۲ - دمرکزی دفتر مصارفات | ۱۳٦۵۰۸ | » |
| ۳ - په داخل کی دنمايندگيو مصارفات | ۱۱۸۱۵٦ | » |
| ٤ - د پنځو موترانو خريداری | ۸۵۵۰۰۰ | » |
| ۵ - نقدی تسليم شوی | ۲۱٦۲٦ | » |

# د افغانستان اسلامی دولت

## د رفاه اداره

**پوستنپانه** د پوښتونکی نوم

تاریخ

**دسته جمعی فورمه :**

د پوښتید ونکو نوم کلی ولسوالی

ولایت د کلی څلور خوا وي

۲ - د شوروي د قوي څخه د مخه ستاسو په کلی کښی څو کورنیو ژوند کاوه

۳ - فعلا ستاسو په کلی کښی څو کورنی ژوند کوي

٤ - ستاسو په کلی کبې یوه اوسطه کورنی څو غړي لري

٥ - ستاسو د کلی څو کورنیو هجرت کړي دي

پاکستان ته څو کورنی ایران ته څوکورنی ښار

خواه سیموته څو کورنی نورو ځایو ته څو کورنی

٦ - د هجرت وجه څه وه ؟

۷ - ستاسو په کلی کښې څو تنه شهیدان شوي دي

۸ - ستاسو په کلی کښې څو تنه زخمیان شوي دي

۹ - ستاسو د کلی څخه څو تنه سیاسی بندیان دي

۱۰ - ستاسو په کلی کښې ټول څو کورونه (تعمیر) شته ( ) آباد لږ تخریب شوي ډیر تخریب شوي

۱۱ - ستاسو په کلی کښې ټول څو مسجد ونه شته ( ) آباد لږ تخریب شوي ډیر تخریب. شوي

۱۲ - ستاسو په کلی کښې ټولي څو مدرسی شته ( ) آباد لږ تخریب شوي ډیر تخریب شوي

۱۳ - ستاسو په کلی کښې ټول څو مکتبونه شته ( ) آباد لږ تخریب شوي ډیر تخریب شوي

۱٤ - دا کلی څو جریبه ځمکه لري ( ) جریبه آبی جریبه للمی باغ جریبه شاړه

جریبه د شاړیدلو وجه

۱۵ - د دي کلی ځمکی اوبه لري لږي کافی ډیري

۱۶ - د دي کلی ځمکی څه مشکلات لري که هغه رفع شی حاصل به ډیر شی کم آبی ذابر

سره (کود) تخم دوائی

د کښت وسایل مالی کمزوري

زراعتی تعلیم بشري قواء جنگ او نور

۱۷ کیمیاوي سري څخه استفاده کوي هو

نه      که هو د کومه ئی پیدا کوي

۱۸ ـ د کښت دپاره مو پوراخستی دي هو

نه      که هو د زراعتی بانک څخه

افغانی د خپلوانو څخه      افغانی د نورو منابعو څخه

افغانی

۱۹ ـ د کښت وسایل مو څه شی دي

۲۰ ـ د کښت دوائی مو استعمال کړي ده هو

نه      که هو د کومه ځایه مو کړه

۲۱ ـ ستاسی د کلی عمده محصولات څه دي ؟

۲۲ ـ ستاسو کلی څوک اداره کوي قوماندانان

محلی شورا      او

نور

۲۳ ـ ستاسو په کلی کښی د مجاهدینو د خوراک وضعه څنګه ده ؟ دوي خپل خواړه د کومه او څنګه پیدا کوي ؟

۲٤ - ستاسو په کلي کښې صحي کلینکونه شته هو

نه                    که هو څو کلینکه                    فني پرسونل

ئې څوم دي

۲۵ - لو ر فني کسان ستاسو په کلي کښې شته

نجاران                    ګلکاران                    دریوران

تراکتورچیان                    مستریان                    انجینران

ډاکتران                    نرسان                    کاریز کنان

د زراعت ماموریـن

۲٦ - ستاسو په کلي کښې څو ویالي شته .

فعالي                    تخریب شوي                    اندازه د تخریب

۱ - مکمل تخریب                    ۲ - نیم تخریب

۳ - لږ تخریب

۲۷- ستاسو په کلي کښې څو کاریزونه شته

فعال                    تخریب شوي                    اندازه دتخریب

۱- مکمل تخریب                    ۲ - نیم تخریب

۳ - لږ تخریب

۲۸- څو د ارهټ ځاګاني مو په کلي کښې شته

فعالي                    تخریب                    اندازه د

تخریب ۱ - مکمل تخریب                    ۲ - نیم تخریب

۳ - لږ تخریب

۲۹ ـ ستاسو په کلی کښې حو سرکونه شته (　　　　)

قیر :　　　　کیلومتر . دویمه درجه :　　　　کیلومتر .

دریمه درجه :　　　　کیلومتر . اندازه تخریب ۱ ـ قیرسرک :

کیلومتره ۲ ـ دویمه درجه سرک

کیلومتره . دریمه درجه سرک :

کیلومتره

۳۰ ـ ستاسو په کلی کښې څو پلونه شته (　　　　)

غټ :　　　　میانه　　　　واړه :　　　　د

تخریب اندازه ۱ ـ غټ　　　　میانه پل

کوچنی پل

۳۱ ـ ستاسو په دلی کښې څو چینې شته (　　　　) مکمل

تخریب　　　　نیم تخریب　　　　لږ تخریب

۳۲ ـ ستاسو په کلی کښې څو سر بند ونه شته

غټ　　　　میانه　　　　واړه　　　　اندازه د

تخریب ۱ ـ غټ تخریب　　　　۲ ـ میانه تخریب

واړه تخریب

۳۳ ـ ستاسو د کلی حمل و نقل وسیله څه ده څو لارئی

څو تراکتورونه　　　　څو بسونه

څو اوښان　　　　څو قچري　　　　څو خره

څو آسان

۳٤ ـ د حمل و نقل مصارف د ښار څخه ستاسو تر کلی

بو من افغا نی

۳۵ ستاسو په کلی کښی خلک کوم حیوانات زیات روزی

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ |
| ۵ | ٦ | ۷ | ۸ |
| ۹ | ۱۰ | | |

۳٦ ـ ستاسو په کلی کښی د ماین او بمونو وضع څنګه ده

او د مینونو ساحه

انواع : د پرسونل ضد د تانګ ضد

د غورځول شوو بمونو شمیر

منفجر شوي منفجر شوي نوي

د ماین او بمونو د پاکولو او خنثی کولو څه طریقه استعمالوي

B
5.732
AZA
1927
٤٠١

# RECONSTRUCTION AUTHORITY

# FOR AFGHANISTAN

## *Historical Perspective*

*by*

*Dr . Farooq Azam*

*1991*

چاپ : مطبعه وزارت تعلیم و تربیه

حسن د پکتیکا آمر د پکتیا ولایت اوسیدو نکی دا رنگه د غزنی و لا یت آمر ښاغلی عبدالجبار د پکتیا ولایت اوسیدونکی د زابل د ولایت عمومی آمر ښاغلی انجنیر محمد داود د هلمند ولایت د کندهار ولایت عمومی آمر ښاغلی عبدالباری هم د هلمند ولایت اوسیدونکی و و . همدا طریقه په ولسوالیو کی هم معموله وه دیوه ولایت ولایتي شورای یا دیوې ولسوالۍ،دولسوالۍ شورای زمونږ ددفاترو او مامورینو امنیت تضمینا وه او د هغوی د کارلپاره بی زمینه مساعدوله . دوی زمونږ د فترله تعمیر راکاوه او هر ځای زمونږ د مامورینو سره د کار په دوران کی د وسایلو د برابرولو اوتهیه کولو مرسته کوله . حقیقت دادی چی دهری سیمی قوماندانانو زمونږ د مامورینو سره لازمه همکا ري کړیده او ما د خپل ولس پر سیاسی درک او بصیرت او د دوی داداری اوتفا هم پر قدرت نور هم یقین پیداکړ . او د رفا د فترونو ته هم هدایت ورکړ شو ی و چی هیڅ کارد قوماندانانو او د سیمی دخلکودمشوری پر ته ونکړ ي . داځکه چی دا پروگرام د دوی دخدمت لپاره و او بس .

د پروگرام له مخی په هره ولسوالۍ کی د رفاه د دفتر آمر ته یو موټر او مامورینو ته موټر سائیکلونه پد نظر کی وو څو په ټوله ولسوالۍ کی وگرځي ، سروی وکړ ی د خلکومشکل له نژد ې وگور ي او هغوی ته عملاً رسیدگی وکړ ی . د رفاه ولایتي آمرانو

موټران درلود دل چې په مربوطه ولایت کې دټولو ولسوالیو د
د فترونو رسیدګی وکړی .

درفاه پروګرام صرف اوصرف د افغانستان د داخل لپاره و ددی لپاره چې لهٔیوی خوا جهادتقویه شي اوله بلې خوا مو خپل مظلوم ملت ته خدمت کړی وي نو درفاه مرستې ،و دخیر په یوه تهداب او پروګرام پیل کړی . هغه داچې رفاه دځان سره تعهد وکړ چې تر څودا اداره باقي وی او انشا الله راتلونکي اسلامی حکومت به هم زمونږ دمقدس جهاد دشهیدانو او لادو ته،د جهاد معیوبینو ، د جهاد د سیاسی بندیانو کورنیو او جوماتونو امامانو ته د خوراکی موادو مفت امداد ورکوي . مونږ دا فیصله کړ یوه چې د شهیدانو کورنیو ته به ترهغو دخوراکی موادو امداد په هره میاشت کی ورکول کیږی ترڅو دشهیدانو دکورنی آخرین کوچنی ۱۸ کلن کیږی؛دمعیوب دکورنی سره به ترهغو دامرسته ادامه لری ترڅو معیوب ژوندیٔوي ؛ دبندی دفامیل سره به ترهغو دا کمک دوام لری ترڅو یا بندی راخلاصیږی اویائی مرګ تثبیت کیږی؛د مرګ دیقین په صورت کې دده د کورنی سره د شهید د کورنی په شان معامله کیږی چېدغه کارونه درفاه لخوا سرته رسیدلی هم دي .

زمونږ دهیواد خلک په کلیو کې یخوا هم خوار او غریب و . تیر لس کاله چې د باران په شان بمونه پر ی و ریدلی د ي ، کښت او کروندهٔ ئیخرابهٔ او اقتصاد بالکل فلج دیخاک تر پخوا

ډیر خوار شویدي دخوارو خلکو ملاامام هم خوارا و غریب وي
ددی لپاره چي دکلیوپه سطح تعلیم تقویه او دخلکو لپاره ددعوت
او ارشاد دیوه بله وی نو فیصله موو کړه چي دکلیو امامانو ته
په هم درفاه له امداد څخه وړیا مرسته ورکول کیږی ترڅو دا
طبقه نور د و لس پر اوږو بار نه وی بلکه نسبتاً ارام او د خلکو
دخدمت اوهدایت مصدرشي . درفاه معیاری اوسط کورني ۸ اته
تنه غړی درلودل .

درفاه پالیسی داوه چي‌ددی‌څلورو طبقوپرته ( شهید ، معیوب،
بندی او ملا امام) نورو ټولو خلکو د رفاه څخه د کار په مقابل
کی مرسته اخیسته دکلي‌خلکو خپل کوزونه جوړول خواجوره‌لی
د رفاه څخه ترلاسه کوله خپل کښت او کروندو ته ئی کوله ویالی
ترمیمولی خواجوره ئی رفاه ورکوله او یایی‌دخپلی سیمی‌سړکونه‌او
مدرسی‌ترمیمولی او یا یې بل‌عمرا نی‌کارکاوه‌کرآجوره ئی دکارپه
مقابل کی د رفاه اداری‌ورکو له . پدی ډول‌له یو ی خوا د کلیو
خلکو ته کار پیدا شو او له بلی خوا خلک مفت خو ر تر بیه نه
شوه دکار په مقابل کی دخوراکی موادو ورکول یوه بله گټه هم
درلوده هغه داچي په سیمه کی‌غذائی‌مواد ډ یر شوه او د موجوده
غذائي موادو‌نرخونه ټیټ‌شوه چي‌پدی ډول دهغوکسانوهم‌په‌گټه‌وه
چي‌زموږ‌نږپروگرام لاندی‌ئي‌کار نه کاوه داځکه چي دغذائي‌موادو

قیمتونه راټیټ شوه او دټولی‌سیمی دخلکو په‌گټه وو . مگرکه چیري مونږ نقده پیسه ورکولای نو دی کار به نه یوازی په سیمه کی خوراکی مواد نه ډیرولای بلکه دموجوده خوراکی موادو قیمتونه به هم لوړبدلای‌او پدی ډول به دنرخونو دلوړوالي بد اثر به د- سیمی ټول خلک متضرر کړی وای .

د رفاه اداري د افغان مهاجرینو دبیا میشته کو لو لپاره څه پروګرامونه جوړ کړی وو چی‌البته طرح اونقشه ئی په ابتدالی مر حله‌کی وه . یوکمیسیون مؤظف شوی و چی پردی موضوع غور وکړی چی کله افغان مهاجرین بیرته خپلو کورو ته څی څرنګه به هلته اسکان کیږی او ددي نقل او انتقال او هلته ځای په ځای کیدل به په څه ډول وي . د دوی خوراک، صحت، تعلیم دکورونو ابادیدل، زراعت اوکسب و کار به ئي څه‌مشکل ولری اتفاقی نظر دا وو چی د افغانستان‌په هره ولسوالی کی باید د رفاه اداری داسي تقو یه شي چی دمهاجرینو دامستقبال او دهغوی د- ځای پرځای کیدو سر پرستی‌د ذیعلاقه ادارو په مرسته و کړی .

د مهاجرینو د دوباره اسکان او د افغانستان د بیا ودانو- لو وزارت چی وروسته د رفاه په اداره تبدیل شو لاندی اداری درلودی :

۱ - احصائیه او پلان آمریت .

۲ - د ښوونی او روزنی آمریت .

بشري مرستي افغانستان ته د رفاه له لاري واستوي او يا حد اقل خپل پروگرامونه له رفاه سره منسجم کړي .

څرنگه چې د رفاه اداره د ټول جهاد په سطح او د هغه په خدمت کې يوه اداره وه نوځکه د هر تنظيم د مجاهدينو او د هيواد له ټولو سيمو سره بې له کوم تبعيض څخه برابره معامله کيده . د رفاه مامورين هم صرف د لياقت پر بنياد مقرريدل . دغه سبب وو چې د ټولو تنظيمونو کسانو پکې کار کاوه او دې اداري قطعاً تنظيمي بڼه نه درلوده . په افغانستان کې د ننه د رفاه په هر دفتر کې کوښښ شوی‌و چې حد اقل يو انجنير ، يو د زراعت متخصص ( پوه ) او يو د تعليم او تربيې مسلکی کس مقرر شي . چې په دې ډول رفاه په لږ وخت کې يو زيات شمير فني تعليميافته کسان جذب کړل .

د رفاه اداري خپلو مامورينو ته حد اقل يونيم‌زر (۱۵۰۰) کلداري او حد اعظمي « ۱۲۰۰۰ » دولس زره کلداري معاش ورکاوه . کومو مامورينو چه په افغانستان کې دننه کار کاوه د هغوی معاش د هغو مامورينو د معاش په نسبت چه په پاکستان کې کار کاوه ۵۰ فيصده اضافه و چې د معاش دغه امتياز مامورين دې ته تشويق کړل چې ټول په افغانستان کې د ننه کار و کړي او د تاريخ په ډيرو سختو شرايطو کې خپل وران وطن بيرته آباد کړي . د تحصيل درجه

دکار سابقه ، دهجرت موده ، په جهاد کې سهم او قرباني هغه شاخصونه و و چې موږ د هغوی په رڼا کې د مامورینو وقفونه اومعاشات ټاکل او دغه ارزيابي په ديوی خاصې فورمې پواسطه چې د مامورینو له خوا ډکیده سرته رسیدله . په مامورینو باندې اعتماد ، هغوی ته د ابتکار موقع او صلاحیت ورکول او له هغوی سره په ګډه توګه د هغوی ستونزې او مشکلات حلول زموږ د کار بنیاد او بنسټ تشکیلاوه . د دې لپاره چې په کار کې کاریګر ، مخلص او مبتکر سړي اداری ته معلوم شي او هغه تشویق شي او څوک چې په کار کې لېږ سست وي هغه هم خپل کارته متوجه شي نو په دې لحاظ بررسي او تفتیش زموږ د اداري یو تکمیلي اړخ تشکیلاوه د دغو اصولو په برکت د رفاه مامورینو هریوه په خپل ځای کې ځان د پوره اختیار خاوند ګڼله او د خپلې وظیفې له اجرا سره یې پوره علاقه وه .

د رفاه اداری ته زما د کار تر پایه پوری مبلغ ۱۴۴۱۵۰۰ کلداری عاید د ملګرو ملتو موسسې ( UNOCA ) لخوا د مرستې په ډول راغلی و او ټول مصرف شوی و . د امریکا AID هم د دفتر او د هغه د اوازمو مرسته کړیده .

زه د ټولو هغو کسانو او موسساتو منندوی کوم چې د رفاه سره یې مرسته کړیده .

دا اداره د ۱۹۸۹ کال د می په ۲۳ نیټه د خاصو مراسمو په ترځ کې د افغانستان د بیا ودانولو وزیر ښاغلي استاد برهان الدین رباني ته د خپلې ټولې ( منقولې او غیر منقولې ) دارایي او پرسونل سره ور تسلیم شوه .

په اخرکښې باید ووایم چې دا رساله باید پرخپل وخت چاپ شوې وای خو د ځینو معاذیرو له کبله یې اوس چاپوو چې حداقل له ورکیدو څخه خو وژغورل شي . په درناوي

غلام فاروق اعظم
د رفا د اداري عمومي آمر
پېښور ۱۳۷۰ هـ . ش

# اهداف

د افغانستان د بیا ودانولو اداره (رفاه) یوه مستقله، غیر سیاسي غیر نظامي او غیر حزبي اداره ده چي د افغانانو سره یوائې د هغوی دبشري ستونزو په حل کي دخپلو امکاناتو په چوکاټ کې مرسته کوي . دا اداره د افغانستان دمجاهدینو د اسلامي اتحاد سره په تفاهم او همکارۍ کارونه سرته رسوي .

ددې مستقلې غیرسیاسي اوغیرنظامي ادارې هدفونه په لاندې ډول دي :

۱ : د افغانستان دننه ته د تولو بهرنیو بشري مرستو انسجام سم او سالم انتقال .

۲ : د هیواد په داخل کې ډیرارخلکو ته دعاجلو بشری مرستورسول.

۳ : دجنګ ځپلو پرګنو سره مرسته .

۴ : په افغانستان کې دننه او سیدونکو ته د روغتیا مرسته رسول .

۵ : افغاني ماشومانو ته د زده کړې زمینه او وسایل برابرول .

۶ : افغاني بزګرانو او مالدارانو ته دکرنې او مالدارۍ وسایل او امکانات برابرول .

۷: د تخریب شوی آبیاری سیستم او شبکو بیا ابادول .

۸ : دپلونو او فرعی سړکونو بیا ترمیم .

۹ : د کورنیو صنایعو تقویه کول .

۱۰ : په لومړۍ مرحله کې دهیواد په دننه کې د داخلي مهاجرو اسکان او په دوهمه مرحله کې د افغانستان دقضیی دعادلانه حل په صورت د هغومهاجرینو بیا میشته کول کوم چې اوس دهیواد څخه دباندې ژوندکوي .

دافغانستان د بیا ودانولو اداره
«رغاه»

# تاریخي پس منظر

لیکنه او اشراف : دوکتور فاروق اعظم

کال : ۱۳۶۹ ، هـ، ش

دافغانستان د بیا ودانولو اداره

«رفاه»

# تاریخي پس منظر

لیکنه او اشراف : دوکتور فاروق اعظم

کال : ۱۳۶۹ هـ ، ش

بسم الله الرحمن الرحیم ط

# سریزه

د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد د انجنیر احمد شاه په مشرې د افغانستان انتقالی اسلامي حکومت جوړ کړ او زه ئي په هغه کی د مهاجرینو د بیا ځای پر ځای کولو او د افغانستان د بیا ودانولو د وزیر په توگه تعین او مقرر کړم که څه هم دا حکومت -۷- اوو مشرانو په اتفاق جوړ کړی وو او وزیران هم هر مشر په خپله خوښه حکومت ته معرفی کړی وه خو د ځانگړو علتونو په وجه د حکومت د جوړیدو له لمړی ورځی څخه د مشرانو تر مینځ د حکومت په سر مخالفت رامینځ ته شو یو شمیر ئي حکومت غوښته او بل شمیر ئي رداوه پدغه نامساعدو شرایطو کی تولی وزارتخانی او حکومت منحیث کل فلج او د کاره ولوید . ما خپل وزارت د فوق العاده نا مساعدو

شرايطو با وجود فعال ساتلي وو . څرنګه چي ز ما دکار طبعيت

غير سياسي غير نظامي او صرف بشري وو نو ما هم له يوى خوا

خپل کار د سياست څخه ليري سا تلی وو دا ځکه چی ما غوښتل

تو ل جهادي تنظيمونه پر ته له کوم سيا سي ملحو ظ ز ما سره

همکاری وکړی ا و له بلی خوا د ملګر و ملتو ا و نورو خا رجی

مؤسسو چی زمونږ حکومت ئي په رسميت، نه و پيژندلی زمونږ

سره ددوستی لار خلاصه کړ ی څو پد ی تر تيب تو لی خارجی

بشری مرستي د يوی واحدی افغانی جهادی اداري له لاري بيله کوم

تبعيضه تر يو معين پروګرام لاندې ا فغا نستا ن ته وليږدول شی

نو ځکه مي د وزارت د رسمي چو کا ټ څخه بهر يو ه اداره

د افغانستان د بيا ودانولو اداره ( رفاه . **R.A.F.A**)

په نامه تأسيس کړه ا و په فعا ليت ئي پيل و کړ

( د شو را د فيصلي دتصويب تاريخ )

افغانستان په روس کاله اوږد او شديد جنګ کی درانه

تلفات ليدلی دی په دی موده کی پردی هيواد باندی د باران

په شان بمونه اوريدلی دی او د ځمکی زړه يی هم له چاوديد ـ

ونکو موادو څخه ډک شوی دی . له شلو څخه تر ديرش

ميليونو پوری مختاف ډولو ماينونو زموږ دا ښکلی او آرام وطن

د ويری او نا آرامی په تاتو بی بدل کړی دی لکه چی

يو روسی جنرا ل ويلی دی چی موږ به له افغانستان څخه ووزو

او افغانان به زموږ له جنګ څخه خلاص شی خو موږ د دوی

ځمکه و دوی ته داسی عیاره کړی ده چې د دوی خپله ځمکه
به د دوی سره لږ تر لږه لس کاله نوره هم جنګیږی .

ښارونه ، کلي او کورونه ټول وران شوی دی د اوبو لګولو سیستمونه سخت تخریب شوی ، کرنه او مالداری فلج شوی او اقتصادی ماشین منحیث کل ځای پر ځای دریدلی دی د داسې هیواد بیا ودانول کوم چې د روس غوندی یو بی رحم او وحشي طاقت لس کاله په خپل ټول توان او قوت سره تخریب کړی دی آسان کار نه دی .

د افغانستان د بیاودانولو کار نه د یو خاص وزارت کار دی ، نه د یوی خاصی اداری او نه د کومی ځانګړی مؤسسی . بلکې دا د افغانستان د ټول ملت ګډ او متحد کارته ضرورت لری او د نړیوالو کافی مرسته ایجابوی .

په همدی مقصد ما خپل هیواد او هیواد والو ته د خپل توان په اندازه د خدمت کولو له پاره دافغانستان د بیا ودانولو (رفاه) اداره جوړه کړه زما دا هڅه او کوښښ وو چې دا اداره به د نظامی جهاد تر څنګ د افغانستان د مجاهد ولس بشری ستونزی حل کړی او په دی ډول به د جهاد متمم او مکمل اوسی . ګویا په حقیقت کې د رفاه اداری د جهاد بشری اړخ ته کار کاوه او هغه یی تقویه کول . دغه سبب و چې د رفاه ټول دفترونه او پروګرامونه په هره سیمه کې د جهاد د قوماندانانو

سره په مشوره جوړیدل او د وطن تر آبادۍ د مخه په لومړۍ مرحله کې مرسته هم د جهاد شهیدانو معیوبینو د بندیانو کورنیو او د جوماتونو امامانو ته ورکول کیده تر څو په دې ډول سره جهاد دشاله خوا څخه نور هم تقویه شي‌او مجاهدین په ډاډه زړه جهاد ته ادامه ورکړي .

د وطن دبیا ودانولو په کارکې هم د قوماندانانو مشوره مونږ ضروري ګڼله تر څو هغوی را وښیي چه په سیمه کې کوم کار وشي چي هغه جهاد ته مفید وي . مثلاً اکثراً زمونږ د سړونو له جوړلو سره علاقه وه چې په دې کار د مجاهدینو اکمالات اسانه شي .

د رفاه سره د مجاهدینو حکومت او یا د مجاهدینو اتحاد کومه مرسته و نه کړه بلکې دا اداره تولله په بهرنیو مرستو چلیدله . که څه هم هره خارجي مؤسسه خپلې مرستې په ځینو شرایطو چاته ورکوي ، خو مونږ کوشش کاوه چي دغه مرستې د جهاد په ګټه استعمال کړو . ډیرې مرستې وې چي مونږ هغه د جهاد په ګټه و نه بللې نو ځکه مو وانه خیستې .

زه د ټولو هغو انفرادي کسانو ، خیریه ټولنو او نړیوالو موسسو خصوصاً UNOCA او د پاکستان له حکومت څخه مننه‌کوم چې د رفاه داداري په‌تقویه کې یې زما سره مرسته کړې ده . د رفاه دا کوښښ وچې ټول خارجي خیریه موسسات خپلې